

افسانہ
میاں لطیف شاہ شاہد



نیــــازبینه غــــاره یې نصیب نه شوله
ژوند د شلېدلې کتمالې غوندې دے

## دَ مصنف منظوم آثار

- ژوبل سپرلے
- دَ انتظار پهٔ صلیب
- وحشت کا سفر
- پیاس نگر میں پہلی بارش
- خزاں کے ساتھ میں گلشن میں لوٹ آؤنگا

# کټماله

(افسانې)

لطیف شاه شاهد

مرکزی پښتو ادبی جرګه نوښار
دَ ادبی دوستانو مرکه مردان
پښتونخوا

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

ټول حقونه د افسانه نګار دی


د کتاب نوم: کټماله (افسانې)

افسانه نګار: لطیف شاه شاهد

اول چاپ: مارچ ۲۰۱۱ء

د چاپ ځائې: زرپاڼه پرنټرز، پبلشرز پېښور

فون: (091-5841372) ایمېل: (zarpanra@yahoo.com)

شمېر: پينځۀ سوه

کمپوزنګ: رحمت دیوان (03457030719)

قیمت: ۱۰۰ روپۍ

خورونکی: مرکزی پښتو ادبی جرګه، نوښار
دَ ادبی دوستانو مرکه، مردان
پښتونخوا

# ټرون

د خپلې اخرې محبوبه په نوم
چې زما د ژوند ملګرې ده
او د ثناء، ثاقب، موسکا او
ځلان مور ده

| مخ | د افسانې نوم | شمېر |
| --- | --- | --- |
| | جنازه | ۱ |
| | سپېره | ۲ |
| | د سکروټو تاج | ۳ |
| | مریم | ٤ |
| | کټماله | ٥ |
| | رنډۍ | ٦ |
| | توکانې | ۷ |
| | انځرګل | ۸ |
| | زړۀ واخله | ۹ |
| | تنده | ۱۰ |
| | ځنګل | ۱۱ |
| | مینه ګل | ۱۲ |
| | تروږمې | ۱۳ |
| | فېصله | ۱٤ |
| | بنګړی واله | ۱٥ |
| | مجرم | ۱٦ |
| | درشل | ۱۷ |
| | د اسمان اوښکه | ۱۸ |

# جنازه

د تاجي د مرګ خبر چې په مالت کښې خور شو نو په مالت کښې د هغۀ څوک داسې نۀ وو چې غریب تاجے ئې په ساندو کښې ستائیلے وے او مالت څۀ چې په څلور کنجه دنیا کښې د هغۀ خوار چاسره د وینې رشته نۀ وه. مور پلار ئې د تقسیم په ورځو کښې د مذهبی تعصب له سره زار شوی وو، د شپږو کالو وو چې د مهاجرو د قافلې سره لاهور ته راغلے وو او بیا په ټکرو ټکرو خدائې خبر کومې بلا نوښار چاونۍ ته رارسولے وو. د تیرو پنځوسو کالو راسې غریب د دوو روټو په چکر کښې په پردو خدمتونو کښې داسې بوخت وو چې د ګانړی غوئے به تري ښۀ وو. وادۀ کوژدن ته ئې چرې پام هم نۀ وو تلے او کۀ چرې تلے هم وی نو د هغۀ په شان بې کوره بې هوره بنیادم ته څوک د لور خور لاس په لاس کښې ورکوی، نو تاجے خوار خبر هم نۀ شو چې ځوانی پرې کله راغله او کله نامراده او بې نوا تېره شوه. تر کومې چې غریب په ځان وو نو د پردو خدمتونو نه نۀ وزګاریدو، ولې چې کله په خپله د

لطیف شاه شاهد

لادو بادو نه پرېوتو، نو په ړومبی
ځل ئې محسوس کړه چې اولاد د اخری
عمر امسا وی، د موټازۍ په سخت وخت
کښې ئې څوک هم په کار نهٔ شول، کوم
تاجی چې خپل ټول عمر د چونۍ د
خلقو دپاره په یوه پښه تېر کړے
وو، هغه د خپلې کرائې په کوټه کښې
په ګېډه نهر او په مټه رنځور په
داسې حال مړ شو چې دواړه سترګې ئې
وازې او خُلهٔ ئې بکه وه، دا خو ښهٔ
وه چې د میاشتې په ړومبی تاریخ مړ
شو او په دغه ورځ د کوټې مالک د
درې میاشتو پاتې کرائې پسې په
خپله راغلو، ګنې خدائې خبر چې د
مرګ پته به ئې کله لګېده، د چم
ګاونډ خلقو ئې کوشش وکړو چې سترګې
ئې پټې او خُلهٔ ئې بنده کړی، خو د
ژمی لویه شپه پرې تېره شوې وه، نو
نهٔ ئې خُلهٔ بندېده او نهٔ ئې سترګې
پټېدې، اخر ټولو خپله شرمندګی په
دې پټه کړه چې څوک به دې بې کوره
مهاجر ته مخ کتنې ته راځی، د مالت
د اصلاحی کمېټۍ غړو دومره ضرور
وکړل چې په جومات کښې ئې د هغهٔ د
جنازې د وخت اعلان وکړو او یو څو
کټونه ئې په کوڅه کښې واچول چې کهٔ
په ژړا نهٔ وی نو په دعا خو ئې مرګ
ښائسته شی.

اصلی کشاله هغه وخت راپېښه شوه چې کله د مالت امام صېب د مړی د غسل نه انکار وکړو، هغهٔ اووې چې هغهٔ تاجې چرته په خپل جومات کښې په مانځه نهٔ دے لیدلے، دے به ضرور د بل ملک وی، نو د خپل ملک خلق دې غسل ورکړی، د ورانی او شیطانی خبره په لږ ساعت کښې تر لرې لرې خوره شوه، د ورلډ ټرېډ سنټر د تباهۍ خبره به هم داسې زر نهٔ وه خوره شوې، څومره زر چې ټولې چونړی په دې خبره هور واخیستو. سره د دې چې غسل ورته د مالت امام صېب ورکړو، ځکه چې یو سپانه ورته په غوږ کښې ووې چې امام صېب تاجے خو یوازې ستا په جومات کښې نه بلکې د چونړی په یو جومات کښې هم چا په مانځه نهٔ دے لیدلے. امام صېب په دې مطمئن شو ځکه چې بیخی مونځ نهٔ کول دومره لوې جرم نهٔ وو، خو په امام صېب پسې مونځ نهٔ کول لوې جرم وو، ولې د هغهٔ د ځُلې نه وتې د وړومبی خبرې برکت دومره وو چې تاجی ته د چونړی په لویه هدیره کښې، په څلورو کټونو کښې څلور بیل بیل قبرونه وکنستے شول او چې کله د هغهٔ د کوټنی نه د هغهٔ جنازه پورته شوه نو په کوڅه کښې او د

کوڅې نه بهر د مانکی تر چوکه پورې ټول سړک د خلقو نه ډک وو، اکثریت خل د لویو ګیرو او د درنو پټکو خاوندان وو. زیاتو خلقو پکښې تاجے نۀ چرته لیدلے وو او نۀ ئې پېژندو، دا د پټکو خاوندان د جنازې نه لږ ساعت وړاندې په وېګنو او ډاټسنو کښې خدائې خبر له کومې ځایه داسې راغلو لکه چې جنازې ته نه، د جنګ مېدان ته راغلی وی، د ټولو سترګې سرې او بدې درنې وې، د مالت او د چونې خلقو چې دا ولیدل نو اکثر خلق د جنازې نه په ډډه شول او چې څۀ لږ ډېر پاتې وو، نو هغو چې د پولیس سپایانو ډکه لارۍ ولیده نو هغوی هم د جنازې نه دستبرداره شو او کورونو ته لاړل. د جنازې د کټ څلورو واړه چنې څلورو مضبوطو کسانو نیولې وې. دا څلور واړه د پټکو خاوندان وو، فرق ئې صرف دا وو چې د یو پټکے سپین وو او د بل تور، د دریم پټکے شین وو او د څلورم برګ، د جنازې په کټ پسې چې کوم خلق روان وو، هغه هم یا خو د پټکو او دستارونو خاوندان وو او یا د پولیس سپایان، داسې شکاریده چې د تاجی مزدور نه بلکې د چا لوې عالم دین جنازه وی او د

هر ملک، هرې فرقې عالمان ورته راغلي وي. تاجی غریب چې د ژمی په یخه توره شپه کښې ساه ورکوله نو دا تصور به ئې هم نۀ وو کړے چې بله ورځ به د هغۀ دومره لویه جنازه کېږی.

د جنازې کټ چې په هدیره ورننوتو، نو هم هغه وشوه چې د څۀ یره وه، قبرونه څلور وو او مړے یو، د څلورو وارو فریقو دا کوشش وو چې کټ قبضه کړی، اول خو سوک څپېړه وشوه، ګرېوانونه چاک شول او پټکی پرېوتو، خو چې په دې ونۀ شوه، نو ناڅاپه یو تن بډې ته لاس کړو او تماچه ئې راوویسته، د ډز سره سم پولیس هم لاټی چارج شورو کړو او انسو ګېس ئې استعمال کړو، په دې کښې چا ناګهانه په یو پولیس واله هم ډزر وکړو، بیا خو پولیس والو هم په چا حیله ونکړه او د هدیرې نه مېدان جنګ جوړ شو، په دې هله ګلله کښې نۀ د چا تاجے یاد وو او نۀ د هغۀ د جنازې کټ، د پولیسو د ډزو نه پس اکثر خلق د موقعې نه وتښتېدل، یو څو مړی او ژوبل کسان د قبرونو په خوا داسې پاتې شول، لکه چې په خپلو متو ئې خپلې جنازې راوړی وی، فضا د تریخ انسو ګېس نه

ډکه وه، ولې لوخړې يواځې د ګېس نۀ وې، د تاجې د جنازې د کټ نه هم لوګی ختل، خدائې خبر چې په ډزو کښې د جنازې د کټ څادر هور اخستے وو او کۀ چا په تلو تلو کښې د جنازې کټ ته تيلے وهلے وو، چې زمونږ په قبر کښې خښ نۀ شوې نو بيا سوے سکور ښۀ ئې، پوليس والو چې د تاجې مړے په څادر کښې ونغښتو او يو طرفته ئې کېښود، نو هغه سوے سکور، د پېژندګلو نه وتے وو، د هغۀ وازه خُلۀ او وازې سترګې د اسمان په لور لګېدلې وې، لکه چې څۀ فرياد ئې کولو.

# سيږه

د هغې نوم خو سپوږمۍ وو، خو خلقو به ورته سپږه وئيل.

خدائې خبر چې مور پلار پرې سپوږمۍ نوم ولې ايښې وو، ځکه چې هغه د خپل نوم سره بيخى په ضد وه، رنګ د اسې تور لکه چې کچه مکارۀ ورته چا په مخ مږلې وى او يا ورته چا ډک ډک تور پالش ورکړے وى، وړې وړې سترګې لکه پيچى بټنې، غټه مټاکه پوزه او غټې غټې زوړندې شونډې، تندے د اسې لوې لکه چې د لوبو ميدان وى او ونه د اسې لنډه لکه چې بس يو پشت.

د سپږې نوم پرې د اشې فټ راغلے وو، لکه چې په سپږه چا د دې نوم ايښے وى، يوازې کړۀ وړۀ ئې د سپږې په شان نۀ وو، بلکې کال دولس مياشتې به د سپږو نه ډکه هم وه.

په سر کښې به ئې سپږې لکه د چينجو غُربدې، کله چې به سپږو په سر کښې ځائې نۀ موندو نو په فراخه تندى به راکوزې شوې، چې مشرې بى بى به ئې په تندى سپږه وليده نو په هغه ورځ به ئې په زور کور ته وليږله چې نورې خوېندې

ورته سر وګوری. ورځ دوه پس چې به
واپس راغله نو دومره به ضرور وشوه
چې سپړې به ئې په تندی نۀ ګرزېدې.
دا بېله خبره وه چې د کار
دومره تکړه وه چې په یوازې ځان به
ئې د ځلورو کسانو کار ته متې
انغښتې وې، د سردراز خان د دواړو
ښځو د دې نه بغېر ګوزاره نۀ کېدله،
د مشرې بی بی د لوښو نه به وزګاره
نۀ وه چې د کشرې بی بی د خیرنو
جامو پنډ به ئې مخې ته پروت وو، د
کشرې بی بی د انګڼ جاور به لا ختمه
نۀ وه چې د مشرې بی بی د دالان فرش
به خیرن شوے وو، غرض دا چې د سحر
نه تر ماښامه پورې به لکه د مشین
د پرکی په شان په کار لګېا وه،
ولې مجال وے چې ملا ئې لګولې وے،
ستړی کېدل ئې جوړ زده نۀ وو، په
یو لاس به ئې مستقل سر ګرولو او په
بل لاس به ئې د دنیا کاروبار ترسره
کول. د کتوی څمڅې کار پرې دواړو
بې بیانو نۀ کولو، ځکه چې سردراز
خان په کلکه وینا کړې وه چې د
اخلی پخلی کار به سپړه نۀ کوی،
هغۀ د ماشومولی نه سپړه په کور
کښې لیدله او ښه ورته پته وه چې
سپړنه ده، هغه د سپړو او سپړې
دواړو نه کرکجن وو، ځکه ئې د هغې

لاس په اخلی پخلی کښې نۀ غوښتو، مالک وو، د علاقې په سیاست کښې ئې هم ډېر عمل دخل وو، د کلی چیئرمېن پاتې شوے وۀ او د علاقې د خلقو په غم ښادی کښې شریک او په سخته، نرمه کښې ملګرے نومېدو، درنه حجره ئې چلوله او په ښۀ نوم یادېدو. سپېره د هغۀ د حجرې د نوکر نذیر ګل لور وه. نذیر ګل خپله دا لور د وړوکوالی نه لکه چې خان ته وربخښلی وه، د هغې د خدمتونو په بدل کښې به سردراز خان په نذیر ګل د نورو نوکرانو په مقابله کښې ښۀ نظر ساتلو، په کال اختر کښې به ئې نۀ یوازې د سپېرې برابره برخه کوله بلکې په غله دانه کښې به ئې هم د نذیر ګل زیاته برخه ساتله او اوس خو سپېره د شپاړسو کالو تکړه پېغله وه او د خان د کور ټول کار ئې په سر اخستے وۀ، د کشرې بی بی د مور د مرګ خبر چې راغلو نو سردراز خان ښار ته تلے وو، تر مازیګره پورې خو کشرې بی بی په ژړا انګولا د خان د راتلو انتظار ګاډے وباسی او خپله د ماشومانو سره پلار کره تلو ته تیاره شوه، مشره بی بی هم ورسره شوه، کور ئې سپېرې ته وسپارلو او دواړه بنې روانې شوې،

سردراز خان د شپې لس بجې کور ته راورسېدو، جیپ ئې په حجره کښې ودرولو، نذیر ګل ورته زر زر د خواښې د مرګ او د بی بیانو د تلو خبر ورکړو، هغه ډېر ستړے وۀ او ناوخته هم وو، نذیر ګل ته ئې ووې چې ما سحر د وخته راویخ کړه چې جنازې ته ځان ورسوم، جنازه سحر لس بجې وه.

خان چې کور ته ننه وتو نو سپوږه بې غمه د کشرې بی بی په کوټه کښې د هغې په پالنګ کښې تې وی ته ملاسته ملاسته په خوب ورغلې وه. د ماښام نه په اسمان راغلې ګورې وریځې ناګهانه نورې ګورې شوې، بجلی وپرقېده او لکه چې د اسمان لمنه وشلېده او په کاسو کاسو باران د زمکې په وجود ووریدو. داسې ښکاریده چې پشکال رامات شوے وی.

سحر بانګونو مال چې نذیر ګل د خان د ویښولو دپاره دروازه وټکوله نو لحظه پس خان پریشان حاله حجرې ته راووتو او په غریو نیولی اواز ئې هغۀ ته ووې چې نذیر ګله سپوږمې کوهی ته پریوتې ده. نذیر ګل چې په منډه د خان کور ته ننوتو، نو د خان د کور د لوې کوهی خُلۀ وازه وه

او د کوهی غاړې ته د سپېږې زړې
شلېدلې څپلۍ لکه د سوالیه نخښې
پرتې وې، سوالیه نخښه د نذیر ګل
په سترګو کښې هم وه چې په نیمه
شپه کښې سپوږمۍ د کوهی په غاړه څۀ
کول چې کوهی ته پرېوته.

د سپېږې په جنازه کښې سردراز
خان په وړومبی صف کښې ولاړ وو، د
خلقو په ژبه د هغۀ ستائنې وې چې د
خواښې غم ئې نیمګړے پرېښودو او د
نوکرې جنازې ته ئې ځان راورسولو.
د جنازې نه روستو ئې د غم دعا هم
داسې اخسته لکه چې د کور لور خور
ئې مړه وی، ولې د لاس نیوې په وخت
به ئې لحظه په لحظه داسې سر ګرولو
لکه چې سپږه ئې سر ته ختی وی.

لطیف شاه شاهد

# د سکروټو تاج

منظر د یوې اوږدې تورې کوټې وو، کوټه لکه د شېطان د قلمې اوږده او لکه د کافر د زړهٔ توره تنګه وه، چت او دیوالونه ئې لکه د هور پرستو د درمال غوندې بیخی تور وو، د کوټې یو سر ته د سرو لمبو یو تخت پروت وو او په تخت یو بدرنګ تور وجود د رها په سپین لباس د کبر او غرور بالښتونو ته ډډه وهلې وه، د سر نه ئې د هور لمبه ختېه او د بلو سکروټو تاج ئې په سر وو، سترګې ئې بیخی سپینې وې او د مخ نه ئې ایرې چاڼېدې، د شېطانی تجربو جال ئې په ټول مخ داسې خور وو لکه د جولا جاله، د تور مخ کړهٔ وړهٔ ئې په کرکه، انتقام او دشمنئ کښې داسې اخښلی ښکاریدل چې زړونه ئې بوږنول، د لمبو د تخت مخې ته، دواړو اړخونو ته د هور ورینو کرمو لوې لوې قطارونه وو، په هره کرسئ یو هور لړونے مخلوق سرکوزے او ټیټ سترګے ناست وو، د چا د خُلې د چا د پوزې او د چا د غوږونو نه لوخړه ختله، د نفرت ګونزې د ټولو په تندو

څرګندي ښکارېدي، په هره څهره وحشت
خور وو، په ټول ماحول يو کراهت
خور وو.
دا د شيطانانو کليزه غونډه
وه، دا غونډه به هر کال د کال په
اخرى شپه کېده، نن د کال اخرى شپه
وه، د درستې نړى نه راغلى شيطانان
په توره کوټه کښې راغونډ وو، چې د
تېر کال روداونه واورى، د لمبو
په تخت پروت مشر شيطان د غونډې د
پيل کېدو اعلان وکړو، د ټولو نه
وړاندې هغه شيطان خپله کارکونه
وړاندې کړه چا چې تېر کال د خپل
اعلیٰ شيطانى کردار په سوب د
سکروټو تاج ګټلے وو، دا د مدهوشو
غنم رنګو د سيمې شيطان وو، تېر
کال د هغۀ لويه کارنامه دا وه چې
هغۀ د يو اسلامى ملک لارښود او قامى
مشر د لوي اختر په بزرګه ورځ د
خپلو خلقو د لار په دار خېژولے وو،
دا وارې هم هغۀ په خپله سيمه کښې
د کرکې ډېر کارونه کړى وو او د
نفرت ګڼ تخمونه ئې کرلى وو. مشر
شيطان د هغۀ د نوى کارنامو او
شرشدت خوړولو ډېره ستائنه وکړه،
ټولو شيطانانو سره وېره شوه چې دا
ځلې هم جوړې د سکروټو تاج د دۀ په
برخه رسېدونکے دے، د هغۀ نه پس د

شین سترګو مخوریزو د سیمې شېطان وار په وار ودرېدو، ولې د یو سره هم د مشر شېطان دپاره څهٔ ترسکون او د زړهٔ راشکون خبره نهٔ وه. په فلانی وطن کښې دومره ماشومان زما په لمسون ناجائزه پېدا شو او په فلانی علاقه دومره پېغلو خپل خپل حمل پټ یا څرګند ضائع کړو، دا ټولې زړې خبرې وې چې د مشر شېطان د شېطانی انا تسکین پرې نهٔ کېدو، د تور مخو اوږو تېرو د سیمې د شېطانانو هم هغه زړه ټپه وه چې زمونږ په سوب دومره خق لوږی ووژل او دومره په فلانی ځآئې په فلانی وبا ککړ شو، د سور مخو خوبولو د سیمې شېطانان خو لکه چې خپله هم ټول کال خوبولی پاتې شوی وو، د دې نه علاوه ورسره هېڅ خبره نهٔ وه چې د خپلې سیمې د اولس د مازغو نه ئې د انقلاب جینجې بېخی ویستې وو او ټول خلق د شېطانی سرمایه داری نظام په پنجه کښې شکیل پراتهٔ وو، د زیړ مخی پشتی نکو د سیمې د هر شېطان سترګې په دې شکته وې چې د هغې سیمې نه په دا سخت کال کښې د څهٔ شېطانی پېښې خبر قدرې نهٔ وو راغلے.

مشر شیطان د دې سیمې شیطانانو ته ډېر وقارېدو او په سرکوزو ئې وبلل، شپه پخه شوې وه، واړهٔ شیطانان هم ستړی شوی وو او په مشر شیطان هم اسویلی لګېدلی وو، هغه د نړی د شیطانانو د مجموعی کردار نه مطمئن نهٔ ښکارېدو، په دې کښې اخری شیطان ودرېدو او خپل روداد ئې شورو کړو.

"اے مشره شیطانه! غرهٔ د ګل مخو شمله والو د سیمې شیطان یم، ما د ډېرې مودې راسې په خپله سیمه هور کړلے دے، کلے کلے او کور کور مې په غم لړلے دے، ولې دا وارې ما یوه داسې کارنامه کړې ده چې تر ننه به ستا شیطانی غوږونو نهٔ وی اورېدلی، دا ځلې ما د خپل شیطانی فساد لمنه د خپلې سیمې یو داسې ګټ ته اوړوده کړې وه چې جنت یادېدهٔ، دا علاقه د فطرت د ښائستونو ویره غېږه وه، ددنګو دنګو غرونو، نښترونو، چینارونو، ګل درو او ګل بڼونو دا کور بیخی د امن کور وو، دلته د مینې او د امن ترانې غږېدې، دلته سیندونه، ابشارونه او چینې نغمې بهېدې، مازیګرونه ګودرونه ئې په جونه شاپیرو، پولې پټی ئې په ظلمو اباد وو، ولې ډېر

لطیف شاه شاهد

زر ما د خپل شیطانی هنر په برکت دلته داسې حالات جوړ کړو چې ورور د ورور دشمن شو او پلار د زوی کرکجن شو، په ګل ورینه خاوره ما هوورونه وکړلو، د ښائستونو په مخ ما زخمونه وکړل، دلته دوه وروڼه په یو کور کښې په وروری وسېدل، یو د وردی خاوند وو بل د مدرسې طالب وو، ما په طالب مدرسه پرېښوه او جهاد له مې په غرونو سر کړو، وردی وال ورور چې دې ته جوت کړو چې په بل ورور باور ووروی، څۀ موده پس چې وردی وال ورور د دې بل مجاهد ورور لاسو ته ورغلو، نو اے مشره شیطانه! خپل تورزړۀ په ګوګل کلک او پسه، یو ورور چاړۀ تېره کړه، بل ئې راوپرزووه، د هغۀ نوم ئې واخست چا چې د خپل دره شړلے وی تۀ، بل چې په زمکه پروت دے لتې تکی، وینه ئې داري وهی ....... او هغه نوم اخلی، چا چې د خپل دره شړلے وې تۀ، دواړه د یو پلار نه پېدا، په یوه وینه شریک، په هغه نوم متفق، چا چې د خپل دره شړلے وې تۀ، یو مجاهد ګڼی ځان، بل به شهید یادېږی، کوم به حسېن یادېږی، کوم به یزید یادېږی؟ دا مې روداد وو چې پائې ته رسی".

لطیف شاه شاهد

مشر شيطان له تخته ټوپ کړۀ او اخرى شيطان ته غاړه وتو، بيا ئې په تور مخ او تندى ښکل کړو، خپل د سکروټو تاج ئې فوراً د هغۀ په سر کړو، شيطانان ټول په خپل خپل ځائې ودريدو، په يو اواز ئې افرين افرين شور ګډ کړو، ماحول لوګے لوګے شو، ګړيال د نيمې شپې ټنګار شورو کړو، د شيطانانو چغې تيزې او نارې سرې شوې، توره کوټه کښې شيطانى رقص او ګډا شورو شوه او د دې رقص محور د ښکلو او ګل مخو شمله والو د وطن شيطان وو.

لطيف شاه شاهد

# مريم

سلطانه چې په سپين سر د رحمت
حاجي په ډولۍ کښې د هغهٔ انګڼ کښې
کوزه شوه نو د هغې پېغله لور مريم
ورسره په داج کښې سمه راغله. د
مالت زړې، ځوانې او پېغلې، ټولې
ښځې د رحمت حاجي کره دې تماشې ته
راټولې وې، د چا په شونډو او د چا
په سترګو کښې خندا خوره وه، څوک
ګُته په خُلهٔ وو او چا خُلو ته لوپټې
نيولې وې او رښتيا خبره داده چې
خبره هم لږه د خندا وه، رحمت حاجي
د شپېتو کالو زوړ سړے وو او
سلطانه هم د پنځوسو نه کمه نهٔ وه.
د دې دواړو "زړو کُنډو" د وادهٔ
خبره د ټول کلي دپاره د تماشې نه
کمه نهٔ وه. رحمت حاجي شته من سړے
وو، په ښار کښې ئې د سرائې
کاروبار وو، د دواړو زامنو د فرض
نه فارغ شوے وو او لور ئې نهٔ وه،
زامن ئې دواړه سره د خپلو بچو په
دبۍ کښې اباد وو، بل طرفته سلطانه
يوه غريبه کُنډه وه، درې لوڼه ئې
په ډېرې نېستۍ کښې وادهٔ کړې وې او
يوه پېغله لور نسرين ئې لا په کور
وه، د رحمت حاجي سره د نکاح کولو

فېصله هغې ته څومره ګرانه پرېوتې وه، دا ځان ته يوه لويه قيصه ده، چې څومره ځُلې وې هومره خبرې ئې اورېدلې وې.

د خپلو پېغورونه او د پردو پېچموزې ئې لکه د کانې د کرښو په زړهٔ ليکلې وې، خو د دې هر څهٔ باوجود هغې د مريم د سباوون دپاره دا تريخ ګوټ تېر کړو او د رحمت حاجي په نکاح کښې راغله، هغې د داج په نوم نه د مريم نه علاوه ځان سره هيڅ نهٔ وو راوړی. رحمت حاجي ته د څهٔ ضرورت هم نهٔ وو، د هغهٔ ډک ډوک کور کښې بس د يوې ښځې کمے وو او دلته ورته خدائې د يو په ځائې دوه ښځې د کور ودانۍ ته راوستې، خلقو وې چې رحمت حاجي دا وادهٔ د نېکۍ په خيال کړے دے او د هغې سره ئې لوظ کړے دے چې مريم به لکه د خپلې لور د کوره رخصتوي. هر څهٔ چې وو خو د خلقو دپاره دا يوه داسې تماشه وه چې ډيرې ورځې ورباندې د حجرو او انغرو تولګی ګرم وو.

د رحمت حاجي د وادهٔ قيصې لا په تنارهٔ سړې نهٔ وې چې په څلورمه مياشت د ښځو په مجلس کښې نوې خبره خوره شوه او دا ځلې خو خبره تش ځُلې ته تر لوپټو وړلو پاتې نهٔ

شوه، بلکې شځې د خندا نه په کټونو کښې ورغړېدې، سړو چې واورېده نو هغو خپلو قلمې ونيوې، د انغرو او تنارۀ نه خبره حجرو او دکانونو ته ووته، د چم ګاونډ شځو د تصديق دپاره بانه په بانه د رحمت حاجی کره تلۀ شورو کړل.

وادۀ کړې شځې خو پرېږده چې پېغلو جينکو هم د يو بل سره په غوږونو کښې پې پې شورو کړل، خندا ګانې او ټټوبې ئې لا بيلې وې، د رحمت حاجی نه هم د جومات ملګرو په اشارو کښې تپوسونه وکړل خو هغۀ غريب د شرمه چاته هيڅ هم ونۀ وې. غرض دا چې ځنګه د هغۀ د وادۀ خبره تماشه وه هم هاغسې ئې د بچی د امېد خبره ډنډوره شوه، څو ورځې پس رحمت حاجی په ښار کښې د کرائې کور واخستو او د کلی نه ئې کډه وکړه، چا وې چې د خلقو د ټوقو مسخرو نه تنګ راغلو او چا وې چې د ماشوم د پېدائش دپاره ئې کلے پرېښودو.

د ښاپېرۍ ترور د نمسی وادۀ چې راجوړ شو نو هغه د بلنې دپاره د اينګور او نمسی سره د رحمت حاجی کره ښار ته روانه شوه، د ښاپېرۍ ترور وينا وه چې هغې رحمت حاجی ته ورور وئيلی دی او هغه کۀ هر څومره

بې خونده وی خو د وادۀ بلنه به ضرور ورکوی. رحمت حاجی چې د کله نه ښار ته تلے وو، نو غم ښادی ته هم د کلی په طرف نۀ وو راغلے، د کور پته ئې چاته هم معلومه نۀ وه، د کلی یو نیم سړے چې د ښار دوکان ته ورغلے وو، نو دا ګیله ئې راوړې وه چې د کور مخ ئې ورته ونۀ ښودلو، ولې ښاپېرۍ ترور خو ښاپېرۍ ترور وه، هغه نېغه دوکان ته ورغله او رحمت حاجی ئې ځان سره په رکشه کښې کښېنولو او د هغۀ کور ته لاړو، په رکشه کښې ئې د یو بل نه ګیلې مانې وکړې، خو چې ښاپېرۍ ترور د دې نه خبر شوه چې رحمت حاجی ته خدائې پاک زوې ورکړے دے، نو هغه ډېره خوشحاله شوه، ښاپېرۍ ترور چې د اینګور او نمسی سره د رحمت حاجی په کور ننه وته، نو سلطانه کتوی ځمځی کوله او مریم سره په غېږه کښې ماشوم وو، هغې چې مېلمانۀ ولیدل نو اوتره غوندې شوه، زر ئې ماشوم د لور د غېږې نه پورته کړو او مریم تۀ ئې ووې چې چائې جوړې کړی. ښاپېرۍ ترور ورته د ماشوم مبارکی ورکړه او اینګور ئې د هغې نه ماشوم واخستو، رحمت حاجی د ښاپېرۍ ترور د نمسی سره په بېټک

کښې ناست وو، ښاپېرۍ ترور په یوه ساه د سلطانې نه ګیلې کولې چې په روغ کال کښې ئې کلی ته مخ راوانهٔ ړولو، سلطانې هغې سره خبرې هم کولې او په غېږ کښې پروت ماشوم ئې هم قلارولو چې په یوه چغه وو. په دې کښې مریم چائې او بسکټ راوړو او د مېلمنو مخې ته ئې په مېز کېښودو، ښاپېرۍ ترور مریم ته کلک کلک وکتل او د سلطانې نه ئې تپوس وکړو:

"دا په لور دې څهٔ شوی؟ سلطانې! دا خو نیمه هم پاتې نهٔ ده، ناجوړه ده که د ښار اُبهٔ پرې نهٔ لګی"

سلطانې مریم ته ووې چې د ماشوم بوتل راوړی، ماشوم هاغسې په یوه چغه وو.

"ښاپېرۍ ترور! دا غریبه دوه میاشتې په میعادی تبه پرته وه، اوس لږه د کټه پاڅېدلې ده"

د ښاپېرۍ ترور اینګور سلطانې ته ووې چې دا ماشوم راته اوړے شکارې، تے ورکړه، سلطانې ماشوم په لاسو کښې اوزنګولو.

"خپل پی مې نشته څهٔ وکړم، د بوتل پی ورکوم"

ښاپېرۍ ترور ګُته په خُله کېښوده.

"ښه، بازارۍ پۍ څښۍ، خدائې دې د بدو سترګو وساتۍ، ماشوم خو ښهٔ غټ کټ دے لکه چې د مور پۍ څښۍ"

سلطانه په دې خبره لږه اوتره غوندې شوه، خو په دغه وخت مریم د ماشوم د پیو بوتل راوړو، مور ته ئې په لاس کښې ورکړو او غلې غوندې په خپله کوټه ننه وته، ماشوم د بوتل نه یو دوه ګوټه پۍ وڅښل او بیا په چغه شو، لکه چې د بوتل پۍ پرې ښهٔ نهٔ وۍ لګېدلۍ او د مور تے غوارۍ.

د کوټې دننه مریم په خپل پالنګ کښې اپوته پرته وه، ماشوم په چغه ژړېدو او مریم په چپه خُلهٔ ژړېده، ټول وجود ئې داسې په لړزان وو لکه چې د مِرګۍ مریضه وۍ، اوښکې ئې د مخ نه لاندې په ګرېوان بهېدې، د قمیص دننه ئې د دواړو تیو نه روانې د پیو دارې د اوښکو سره سمې په لړزانده وجود روانې وې او د هغې ټول وجود ئې داسې سوزولو لکه چې سرې سکروټې ورته چا په ګرېوان کښې اچولې وۍ، د ماشوم د ژړا اواز د هغې غوږونو ته داسې راتللو لکه چې په غوږونو کښې ورته څوک ګرمه

سپسه اړوی، هغې په غوږونو کښې ګُتې ورکړې، ناڅاپه د هغې په احساس خاموشی خوره شوه، یوه داسې بې حِسه خاموشی چې هره مریم پکښې لاجوابه وی، خو د هرې مریم د جواب له پاره عیسٰی کله راځی.

کېماله لطیف شاه شاهد

# کټماله

دغه کورنۍ د دري میاشتو راسې زمونږ په چم کښې مېشته وه، ولې زمونږ په شان د چم ګاونډ نورو خلقو ته هم د دې خاوندان په حقله څۀ معلوم نۀ وو، په کلی او ښار کښې یو لوې فرق دا هم دے چې د کلی خلق د یو بل نه بې پروا نۀ شی پاتې کېدے او د ښار خلق د یو بل سره نۀ خو زیات تعلق ساتی او نۀ راشه درشه کوی. په ټول مالت کښې یو د حاجی صېب کور واله ته دومره پته وه چې د دې کور مشره یوه کونډه ده چې ګلشن نومېږی او د خاوند د مرګ نه پس وړو ماشومانو سره د ژوند ګاډے راکاږی. په تنګسیا کښې وخت تېروی، خو په ګاونډ کښې څوک په څآن نۀ خبروی، هغې ته هم دا معلومات څکه وو چې په کرایه ورته کور حاجی صېب ورکړے وو، ګنی نور خو په کوڅه کښې د چا دومره توفیق هم نۀ وو شوے چې په دروغ خېږ خبر ئې اخستے وے. نور خو پرېږده چې په خپله زۀ هم په دې دومره موده کښې دې ته وزګاره نۀ شوم چې یو ساعت له په خېږ راغلی

ته خو ورغلے وے، سره د دې چې د برېښنا پلار راته دوه درې ځلې د دې وېنا هم کړې وه، خو هر کله چې مونږه د برېښنا د قران شریف د ختم دستوره جوړه کړه، نو د مالت د نورو خلقو سره سم دې نوى ګاونډیانو ته مو هم بلنه ورکړه، د ختم په ورځ ګلشن د وړې لور سره راغلله، هغه دنګه لوړه شکلې ښځه وه، خو داسې ښکارېده چې د کونډتون څپېړې ئې ښائست او ځوانى دواړه بې وخته وهلى وو. د وړې لور په غټو غټو سترګو کښې ئې هم څۀ بې نومه شان محرومى ښکارېده، د مالت ټولې ښځې یو خواته راټولې وې او هغه د دې ټولګى نه بیا بل خواته ناسته وه، ټولو ښځو هغې ته لاندې باندې کتل، چا خو خپلو کښې سترګې وروځې وهلې او څوک په ورشکو کښې مسکى مسکى کېدې، هغې ساده د وېل جامې اغوستې وې، سره د دې چې موسم په بدلېدو راغلے وو، په غاړه او په لاسو کښې ئې څۀ کالے پترے هم نۀ وو، بل اړخ ته د نورو ښځو دا حال وو چې د هرې یوې په تن د زرو دولس سوو جوړه وه، د هرې ښځې په لاسو یا په غاړه کښې څۀ نه څۀ د سرو زرو کالے ضرور وو، د بابو صېب د ښځې د

سرو زرو درنې درنې کړې پـه لاس وې، خاوند ئې پـه اکاونټس کښې بابـو وو او د خدائې فضل پرې ښۀ ډېر وو. د ټيکېدار صېب د کور ودانې هم پـه لاسو د سرو بنګړی وو او پـه غوږونو ئې غټې غټې جهمکې هم زنګولې، چې شل کاله زوړ فېشن وو، دا بيله خبره وه چې خاوند ئې د پوپول د بې وختـه پرېوتو پـه کېس کښې تازه تازه ضمانت راغلے وو او پـه تېره تېره د ملک صېب ښځې خو سم حد کړے وو، هغې خو پـه کالو سم ځان داسې انغښتے وو چې مړے بـه پـه کفن کښې څوک داسې نۀ نغاړی، کړې، بنګړی، والی او پـه غاړه کښې د شلو تولو غټه کټماله او ولې نـه، ملک صېب پـه دريم ځل پـه ووټونو کښې ممبری ګټلې وه، خو پـه دې مجلس کښې د ګلشن غريبې ساده باده وجود څۀ عجيبه غوندې ښکاريدو، زۀ خو پـه کار روزګار لګيا وم، خو پـه تلو راتلو کښې مې يوه نيمه خبره تر غوږه کېده، د دې تولو ښځو د خبرو موضوع هم هغه غريبه وه، د ملک صېب ښځې سره دا غم وو چې کۀ دا کونډه ده، نو د خرڅ خوراک او د کور کرائې انتظام لـه کومې کوی، کشورو ترور سره دا فکر وو چې هغه روزانـه د لسو بجو

تېږم کښې چرته ځی او د بابو صېب کوروالـه خو پکښې يوه نوې تپـه دا وکړه چې اورېدلـی ئې دی چې خاونـد ئې مړ نـهٔ دے پـه جېـل کښې بـنديـوان دے، هغـه د دې تـولـو خبـرو نـه نـا خبـره يـو طرف تـه غلې نـاستـه وه، زهٔ لا يـوه دوه ځـلـه ورنـزدې شوم هسې مې ورسره يـو دوه خبرې وکړې خو بيا بـه پـه څـهٔ کـار پسې پـه مـنډه شوم.

غرمـه چې دسترخوان وغوړېـدو، نـو هغه هم د نـورو ښځـو سره سمـه روټـی تـه کښېنـاستـه، نـورو ښځـو خـو د خـوړې پـه وخت هم ژبـو تـه ارام ورنـهٔ کـړو او د خپـلې درنـې او پـردی سپکې نـه وزګـارې نـهٔ شوې، خو هغې پـه چپـه خُلـهٔ روټـی وخوړه، يـو د حـاجـی صېب ښځې تـه ئـې سلام ضرور وکړو چې د مـکـان مـالـکـه ئـې وه، بـل چـاسره ئـې ګـفـت بـدل نـهٔ کـړو، چې روټـی وخـوړے شوه نـو تـولـې ښځې پـاځېدې، ولـې زمـا د "نـه نـه" بـاوجود هغې مـاسره تـول لـوښـی کـودی راتـول کـړهٔ او تـر اخره ئـې مـاتـه د کـوربـنـو پـه مـثـال لاس راکړو.

ختم د مـاسپښين نـه وروستو وو، مـا د خپـلو لـونـو سره د ختم مـتـائـی پـه رکـيـبـو کښې اچـولـه چې نـاڅـاپـه کـشـورو تـرور سـاه نـيـولـې غـونـډې کـوټـې تـه رانـنـوتـه او پـه هېبـت ئـې ووې چې

د ملک صیب د ښځې کټماله چرته پرېوته، ما زر زر لاسونه وښنډل او دالان ته راووتم، په دالان کښې غل غوبل جوړ وو، د ملک صیب ښځې کله د کټ لاندې سر ننه ویستو او کله ئې د بالښت لاندې کتل، په پلن او صحتمند مخ ئې خولې راماتې وې.

"خورې! پوره د شلو تولو کټماله وه"

چې زۀ ئې ولیدم نو وار خطا وار خطا ئې راته ووې. زۀ هم پرېشانه شوم، هغې ته خو مې تسلی ورکړه چې کټماله به دې هم دلته چرته پرېوتې وی، ولې خپله مې هم زړۀ رپېدو چې د لکونو روپو شے دے، کۀ ورک شو نو کور زما دے، بده خبره به وی، ټولې ښځې ماسره د کټمالې په لټون کښې لګیا وې، خو کټماله چا پورته کړې ده، زما د زړۀ نه یو الله خبر وو،کور زما وو نو بدناموسی هم ټوله زما وه.

په دغه وخت چې مونږه ټول په کټماله پسې لے په لے ګرځېدو، نو زمونږ دا نوې ګاونډی ګلشن ماته رانزدې شوه او د تلو اجازت ئې وغوښتو، ماته ورته ووې چې لږه ایساره شه چې د ختم مټائی ځان سره یوسې، هغې ووې چې نه کور مې په سر

دے او ماشومان مې کور کښې د غسې پرېښی دی، ایسارېدے نۀ شمه، ما ورته اجازت ورکړو او هغې څادر په سر کړو او ماشومه لور ئې د ګُتې نه ونیوه، ناڅاپه کشورو ترور په هغې اواز وکړو:

"خورې! په دې څادر پورې دې څۀ تړلی دی؟"

هغې چې د کشورو ترور خبره واورېده نو رنګ ئې لکه د کور کمن زیړ وتښتېدو، د پړونی پیسکه ئې په لاسو کښې راتوله کړه او په زړۀ پورې ئې کلکه ونیوه، په چاړی ژبه ئې تش دومره قدرې وئیل:

"دا .......... دا .......... دا خو"

ما چې د هغې دا حال ولیدو، نو لکه د نورو زۀ هم شکمنه شوم، ولې په کور بللې مېلمنه وه نو ما هېڅ وئیلې نۀ شو، خو د نورو ښځو خو دا مجبوری نۀ وه، د حاجی صېب ښځې لږ د عقل نه کار واخستو او رامخکښې شوه.

"خورې! خفه کېږه مه چې څوک څوک رخصتېږی نو تلاشی دې ورکوی چې د زړونو نه شک ووزی"

د ملک صېب ښځې هغې ته په قهرژنو سترګو وکتل او په زهرژنه لهجه کښې ئې ورته ووې:

"څه خورې! دا پیسکه دې راوسپړه"

د ګلشن سترګې د اوښکو نه ډکې وې، شونډې ئې لکه د بلې ډیوې رپېدې، څُلۀ ئې ګونګه وه خو ټول وجود ئې لکه دا التجا کوله چې د څادر پیسکه مۀ سپړی، په دې کښې کټماله دے، خو په هره سترګه کښې د هغې دپاره کرکه وه، د هغې دا خاموشي احتجاج هیچا نۀ اورېده، اخر د ملک صېب ښځې د هغې د لاسو نه د څادر پیسکه راښکله او د هغې غوټه ئې پرانسته، د چا په وهم ګمان کښې هم نۀ وه چې د هغې د پیسکې نه به د کټمالې په ځائې بل څۀ راوځی، ټول هک دک ولاړ وو، د چا په سترګو کښې حیرانتیا وه او د چا په سترګو کښې پښېماني او شرمندګی، ما خو وې چې دا زمکه وشلېږی او زۀ پکښې سره د مالت د ټولو ښځو ننه وزم، د ګلشن د پړوني په پیسکه پورې زما د کور دوه روټۍ تړلې وې او د روټو په مینځ کښې ئې دوه ځلور د غوښې پوټۍ، لږه غوندې یخه قورمه او دوه درې نیمګړې کوفتې

داسې بندي کړې وې لکه چې په يو موټی زړۀ کښې چا خپل واړۀ واړۀ نيمګړی ارمانونه راټول کړی وی.

کېمالله لطيف شاه شاهد

# رنډی

د پو د میاشتي توژنه یخنی د بېګانی باران سره نوره هم زیاته شوې وه، باران ټوله شپه په یوه مخه پوست پوست ورېدلے وو، سحر مانځه وخت باران خو لږه پښه ونیوله خو د اسمان زړۀ لا هغسې ډک ښکارېدو، د کمرې نه بهر تېزې هواګانې د بنیادمو تر هډوکو کوزېدې، د اتوار ورځ وه او په داسې یخه بارانی ورځ چې چونړی هم وی نو د کوم کافر زړۀ به د بړستنې نۀ بهر وتو ته وشی، ما هم خپله کمره په هیټر ښه ګرمه کړې وه او ځان مې په غټ کمبل کښې انغښتے وو.

داسې بې غمه ځکه وم چې د وړو مور سره د وړو مور کره تلې وه، په کور هر طرف ته چپه چپیا وه، پرونه راسې مې د خپل زوړ معمول مطابق د خپلو کتابونو الماری پرانستې وه او د مطالعې په پهاشی بوخت وم، د ښځې او د ماشومانو په غېر حاضری کښې د کتاب سره تړلې تېره هېره مینه تازه کول زما زوړ عادت وو، بېګاه راسې مې د خلیل جبران "ډریمز اینډ تهاټس" ( Dreams and

(Thoughts پـه لاس راغلـے وو او د فـکـر
تـنـده مـې پـرې مـاتـولـه، خـو سحره راسې
مـې نـاقـلاره سوچ د هغۀ پـه يـو اقـتـبـاس
کـښې انـښـتـے وو، پـه مـعـنیٰ او مـطـلـب ئـې
پـوهـېـدم خـو پـه فـلـسـفـه ئـې نـۀ رسېدم،
هغۀ لـيـکـلـی وو چې رنـډی د يـو مـخـصـوص
شخصيت يـا کـردار نـه بـلـکـې د يـو
مـخـصـوص ذهـنـيـت او روئـې نـوم دے، مـا د
دې فـقـرې پـه فـلـسـفـه پـسې د خـيـال
اسـونـه زغـلـول چې نـاڅـاپـه مـې کـشر
وروړ ايـمـل د کـمـرې پـه ور کـښې سر
ښکاره کـړو، د هغۀ پـوزه د يـخـنـی نـه
او مخ د بې اخـتـيـاره شـانـې جـوش او
خـوشحـالـی نـه بـيـخـی سرۀ وو.
"لالا جی! لـړ بـېـټـک تـه ووځئ، زمـا
د کـالـج مـلـګـرے خـوشحـال راغـلـے دے"
مـا خـپـلې عـيـنـکې وويـسـتې او لـړ
پـه حـېـرانـتـيـا مـې تـرې تـپـوس وکـړو:
"ولـې؟ مـا سره ئـې څۀ کـار دے
څۀ" ايـمـل ور لـړې کـړو او کـمـرې تـه
ټـول رانـنـه وتـو.
"نـه لالا جی! څۀ کـار خـو ئـې
نـشـتـه، خـو هغـه يـوازې نـۀ دے، مـا
تـاسـو تـه وئـيـلـی وو کـنـه چې د هغۀ
نـېـټ فـريـنـډ د انـګـلـيـنـډ نـه راغـلې ده،
هغـه هم ورسره ده"
مـاتـه يـاد شـو چې هغۀ دوه درې
ورځې وړانـدې مـاتـه څۀ خـبـره کـړې وه

چې د هغۀ ملګري خوشحال پسې د هغۀ د انټرنيټ ملګرې د انګلېنډ نه راغلې ده او د هغۀ سره به وادۀ کوی او د ځان سره به ئې ولايت ته بوځی. اېمل او خوشحال دواړه د څۀ مودې راسې په دې غم اخته وو، په انټرنېټ ئې د بې شمېره ښځو سره ملګرتيا جوړه کړې وه او په دې طمع وو چې څوک به پرې مهربانه شی او د ځان سره به ئې امريکې يا يورپ ته بوزی، داسې ښکارېده چې خوشحال خپل مقصد ترلاسه کړے وو.

"دلته ئې ولې راوستې ده؟"

ما ترې لږ په ويزاری تپوس وکړو، اېمل د ږيخنی نه سره خپله تماتر پوزه ومږله او د منت په انداز کښې ئې ووې:

"لالا جې! ما ورته چائې کړی دی، تاسو ورسره يوه لحظه کښېنئ، زۀ لږ تر بازاره ځم"

هغۀ ته معلومه وه چې زۀ د انټرنېټ د داسې قسمه تعلقاتو سخت خلاف يم، خو مجبوری دا وه چې په کور کښې دا وخت زما نه علاوه بل څوک وو هم نه، زما زړۀ خو د ګرمې کمرې نه وتلو ته او بيا خاص کر د دې بې سره جوړې دپاره وتلو ته

بیخی تیار نهٔ وو، ولې ورور مې هم خفه کولے نهٔ شو.

"نیک بخته! نو په داسې ورځ دې راغوښتو چې ورندار دې هم کور کښې نشته، ښه ده زهٔ ورځمه ......... او خبره واوره دا سل روپۍ ځان سره واخله"

هغهٔ چې زما اقرار واورېدو نو په زغل د کمرې نه ووتو.

"نه لالا جی! پېسې مې په جېب کښې شته"

زما لاس زما په جېب کښې پاتې شو او هغه لکه د اله دین د ډیوې د پیرۍ په شان غیب شو، ما په کتاب کښې پاڼه راماته کړه او په سائډ ټېبل مې کېښودو، بیا مې یوه اوږده ستومانی وویسته او په ټهٔ زړهٔ مې د کمبل نرمه ګرمه غېږه پرېښوده، هیټر مې بند کړو، ګرمه شړۍ مې له ځانه تاؤ کړه او د کمرې نه بهر راووتم، باران ودرېدلے وو خو تېزه هوا لکه د کټارو په وجود بدو لګېده او نېغه هډوکو ته تله.

چې بېټک ته ننه وتم نو رښتیا خبره دا وه چې داسې حېران شوم لکه چې چا د بجلۍ شاټ راکړے وی، د خوشحال سره چې په صوفه کومه ښځه اوږه په اوږه ناسته وه، هغه که

ډېره کمه وه نو د پنځوسو کالو وه، د اوښ په شاني دنګه او داسې اوچه ککړه لکه چې غوښه ئې د وجود نه چا تروړلې وی، په وړوکې غونډې زېړ زاویل مخ ئې د بې شمېره ګونځو جال خور وو او تور تر سپری ئې لکه د مشکنېو د مخ په جال کښې ټومبلې شوی ښکارېدل، په بیلو ریزو سترګو ئې د غټو شیشو عینکې پرتې وې او په سر ئې د وېښتو یوه جاله غونډې جوړه وه، سټ ئې لغړ وو او په غاړه کښې ئې یوه ارزانه غونډې د جالۍ رنګینه لوپټه داسې پخه راتاړ کړې وه لکه چې خوشحال ورته په ګفټ کښې ورکړې وی. د جینز او شرټ دپاسه د جالۍ لوپټه داسې ښکارېده چې لکه مشرق او مغرب سره ګډوډ شوی دی، خدائې خبر چې په دې یخه یخنۍ کښې په نرۍ سویټر او د جالۍ لوپټه کښې دې زړې میمې د موسم د کومې ادا نه خوند اخستو، ما په وړومبۍ نظر کښې د دې عجیبه څیز جاج واخستو او ډېر په ګرانه مې د تندی چونړې هوار کړو، په دروغژنه خندا کښې مې ورسره هیلو هائې وکړل، خوشحال د هغې په خوا کښې راغونډ او شرمېدلے غونډې ناست وو، په بېټک کښې خاموشي وه، بهر د باران څاڅکو د

لېږي دمې نه پس بيا لکه د مرور ماشوم د اوښکو په تسلسل سره د زمکې په لمن کښې توئېدل شورو کړل. خوشحال غريب ته دومره انګرېزي نۀ ورتله چې زما ورانديې ئې هغې سره خبرې اترې کړې وے، ځکه چې ماته پته وه چې هغه په دوولسم کښې د درې کالو راسې د انګرېزۍ په پرچه کښې فېل کېدو، اخر ما د يو ښۀ کوربۀ په حېث هغې سره ځُلۀ ګډه کړه، هغه انګرېزه وه او ماته معلومه وه چې انګرېزان عام طور سره خبرې په موسم د تبصرې نه شورو کوی، ما هم د موسم نه خبره راونيوه، خپله پېژندګلو مې ورسره وکړه او د هغې نوم مې زده کړو.

مارګرېټ د لندن اوسېدونکې وه او ډريس ډيزائنر وه، په ساده ټکو کښې درزنه وه، ما به ورسره څۀ نورې خبرې هم کړې وې خو هغه غريبه د هرې خبرې سره داسې ټوخېده لکه چې څوک شلېدلے ټول غړوی، سينه ئې بيخی شلمه وه، د شنو شنو رګونو نه ډک هډوکی هډوکی لاسونه او د اوږدو ګتو زيړ سرونه ئې په دې ګواهان وو چې کم نه کمه د سګرټو نشۍ خو ضرور وه، د هغې خپل خيال دا وو چې دا د موسم اثر دے، د هغې

خیال هم څهٔ ډېر غلط نهٔ وو، په داسې قهر ژنه یخنۍ کښې دومره لغړ ګرځېدل به د ځان سره تېوخی نه راوړی نو څهٔ به راوړی، په دې دوران کښې چې به هغه د تېوخی نه له قلاره شوه نو ګم سم ناست خوشحال ته به ئې په نری موسکا کښې داسې په محبوبیت وکتل چې داسې به د شپاړسو کالو پېغله هم خپل محبوب ته په بیخی تنهایی کښې ونهٔ ګوری، دا بیله خبره وه چې د محبوبا ته موسکا سره به ئې یو اړخ ته خو په وړوکی زیړ زاویل مخ کښې ګونزو خپل جال نور هم خوړ کړو او بل اړخ ته به ئې په خوړلی شوی اوریئو کښې پراتهٔ لوې لوې زیړ غاښونه هم څرګند شول، دلته به د خوشحال د هغې ځان ته په کتو او یا زما هغې ته په کتو له شرمه په صوفه کښې نور هم غونډ غونډ شو.

چې ایمل تیاره تړے په لاس بېتېک ته راغلو نو ما د اطمینان لویه ساه واخسته، د دې بوډۍ انګرېزې نه ماته څهٔ عجیبه غونډې کرکه راتله، داسې نهٔ وه چې ګنی ما د دې نه وړاندې د سپین پوستو سره ناسته پاسته نهٔ وه کړې، زهٔ په خپله څهٔ موده په یورپ کښې پاتې شوے وم او

دا خلق مې د نزدې نه لیدلی کتلی وو، د دې خلقو د وجود سوړ بوئی د دوی غټه پېژندګلو ده، خو دې زړه صیمه کښې ماته د مخصوص ورم نه علاوه هم څۀ نالیدلے غوندې کرکژن احساس کېدو. ایمل هغې ته ډېر په احترام او عقیدت د چائیو پیاله وړاندې کړه، خوشحال ورته د نورو لوازماتو پلیټونه مخکښې کول، ما د خوشحال شکلې ځوانی ته کتل او افسوس مې کولو چې دا غریب به دې زړې انګرېزې سره څۀ ژوند کوی، دې سره وادۀ کول خو د رنځ پچې غاړې ته اچول دی، د امریکې او یورپ رنګین خوبونه زمونږ د ځوانانو په حواسو داسې سوارۀ شوی دی چې خپل تهذیب ئې ورپسې هم هېر کړے دے او خپله پښتو ئې هم دوړه کړې ده، د یویشتمې پېړی هر ایمل او هر خوشحال د ډالرو او پونډونو په خواهش کښې د دې هوسناکو شیشکو په پنجو کښې راګېر دے او په خپل سپېڅلی روح د دې شیشکو نوکارې زغملو ته مجبور دے.

هغې زر زر په دوه ځلور ګوټه کښې د چائیو پیاله تشه کړه او خپل جینز د وروستی جېب نه ئې د سګرټو ډبے راوویستو او یو سګرټ ئې خپلې

کړي خُلې ته یوړو، خوشحال په منډه د خپل جېب نه ماچس راوویستو او لکه د یو ښۀ نوکر ئې د هغې سګرټ ته تیلے ووهلو، هغې په جواب کښې خپلې شنې سترګې د خوشحال په کوټلی غنم رنګه وجود داسې خښې کړې لکه قصاب چې د حلالې نه مخکښې څاروے په سترګو کښې تلی، د سګرټ د نوی کش سره هغه بیا په ټوخی سر شوه، دغه وخت هغه ما ته یوه داسې ژورې ښکاریده چې زما د تهذیب په وجود لګیا وی، زما وینه څښی، ناڅاپه مې د خلیل جبران د اقتباس هغه فقره رایاده شوه چې د سحر نه مې پرې مازغه ستړی کول خو د ادراک په کالۀ نۀ راکوزیده "رنډی د یو مخصوص شخصیت او کردار نه بلکې د یو مخصوص ذهنیت او روئیې نوم دے" د خوشحال سترګې ښکته وې او د هغه ماچس سره ئې لوبې کولې چې یوه لحظه وړاندې ئې پرې د انګریزي سګرټ بل کړے وو، ماته بیخی داسې محسوس شوه لکه چې زما وړاندې زما د ورور ملګرے خوشحال نه بلکې یوه پیے مخې رنډی ناسته وی.

# توکاڼی

کشورو ته شپاړس کاله وړاندي هغه ورځ داسي ياده وه لکه چي پروني خبره وی، نواب صېب د کشورو مور ته خوشخبری راليږلي وه چي هغۀ د يتيمي کشورو په سر لاس کېښودو. کشورو ته ښۀ ياد وو چي د هغي مور د ډېري خوشحالی نه خپلي بڼو ته راغلي اوښکي ايساري نۀ کړے شوي او بي اختياره په ژړا شوه. پېغله کشورو حېرانه وه چي مور ئي ولي داسي اوتره شوه چي اول خو ئي هغه ځان ته راغاړه ويستله او بيا ځان سره وژړېده، خو چي کله مور کشورو په دي خبره پوئي کړه چي د نواب صېب د چا په سر لاس کېښودل څۀ معنیٰ لری، نو د هغي په غټو غټو سترګو کښي هم د سباوون ستوری وځلېدل او په پستو ګلابی شونډو ئي سپرلی خېزه خندا خوره شوه.

نواب شمشېر علی خان خانداني نواب وو، باقاعده نوابی خو ئي د مشر نواب صېب په ژوندانۀ ختمه شوي وه، ولي اوس هم په علاقه کښي د هغۀ نه زيات جائېداد او اثر رسوخ د بل چا نۀ وو، هغه يو وضعدار، زړۀ

سواندے او همدرد انسان وو، سخاوت
خو ئې د پلار نيکۀ نه په وينه کښې
شامل وو، خو دردمن زړۀ ورته قدرت
د خصوصي انعام په توګه بخښلے وو.
د نواب صېب د سخا او همدردۍ ډېرې
قيصې مشهورې وې، خو يو غټ مثال ئې
دا وو چې پهعلاقه کښې چې څوک غريبه
ښځه کونډه شوه او لور به ئې پېغله
شوه نو هغۀ به د هغې يتيمې پېغلې
په سر لاسو کېښودو، د دې مطلب به
دا وو چې د دې پېغلې دپاره د
مناسب هلک او کورنۍ لټون، د دې د
وادۀ ټول انتظام، دود دستور، داج
او کالے پرتے هر څۀ به د نواب صېب
ذمه وارى وه، په شلګونو غريبانانې
پېغلې په دې طريقه هغۀ د خپلې
حويلۍ نه په عزت او پرده کښې رخصت
کړې وې، اخر د يتيمې کشورو د
کونډې مور دعاګانې هم قبولې شوې
او نواب صېب د هغې په سر لاس
کېښودو.

کشورو ته هغه ورځ هم ښه ياده
وه چې کومه ورځ هغه د خپل کچه کور
نه د نواب صېب لوې حويلۍ ته
رخصتېده، دا هم د نواب صېب د
حويلۍ يو شکلے روايت وو چې د وادۀ
نه څو ورځې وړاندې به د وادۀ جينۍ
د حويلۍ مېلمنه شوه او د وادۀ په

ورځ به نواب صيب دا مېلمنه په خپلو بختورو لاسو ډولۍ ته وسپارله. کشورو په عمر کښې وړومبی ځل د خپلې مور نه جدا کېده، د کور نه د تللو په وخت ئې زړۀ لکه چې په سترګو کښې درزېدو، سترګې ئې ډکې کېدې او مور ته بیا بیا غاړه وته، مور ورته دلاسې ورکولې چې لېونۍ ژاړې ولې؟ تۀ خو بختوره ئې چې د نواب صيب غوندې فرشته به دې ډولۍ ته خېژی، بس د لس اتو ورځو خبره ده، د خېره د خپل کور مېرمن به شې، ګلے ډېر ښۀ هلک دے، تا به ډېره خوشحاله ساتی او داسې کشورو د اوښکو، اسوېلو او دعاګانو په سېوری کښې د کور نه حويلۍ ته رخصت شوه.

کشورو ته د خپلې ډولۍ ورځ هم داسې یاده وه لکه چې د ګلونو نۀ د ورځو خبره وی او هغه شپاړس کاله وړاندې نه بلکې پرون د حويلۍ نه ګلی ټانګې وال د ختو لوټو د پېوې کوټې کور ته راغلی وی. نواب صيب هغه په خپلو لاسو د ګلی ډولۍ ته واچوله، ډولۍ ته د ختلو په وخت هغې د مور په سپینه پورې داسې په ساندو وژړل لکه چې چا په پسه چاړۀ حلاله کړی وی. د کشورو په راتللو

باندې د ګلی زړۀ د خوشحالو نه او کور د نواب صېب رالېږلی د کشورو د داج د سامان تر څُلې ډک شو.

د کشورو د سترګو په پړده تېر وختونه لکه د زړې زمانې د خاموش فلم په شان تېرېدۀ، د بخت مینې د پېدائش او څۀ موده وړاندې د ګلی د ناګهانه مرګ لمحې هم د هغې د یادداشت په پړده لا هغسې تازه وې.

"مورې! ............. وا مورې!"

د بخت مینې تېرۀ اواز هغه ناڅاپه د خیالونو د دنیا نه واپس د حقیقت دنیا ته راوسته، بخت مینې خپل دواړه لاسونه د مور د ملا نه چاپېره کړل او خپل سر ئې د مور په غېږه کښې کېښود.

"مورې! تۀ نن سحرۀ راسې بیا په کومو سوچونو کښې ډوبه ئې؟"

هغې د مور نه په نازولی ډول تپوس وکړو، کشورو یو سوړ اسویلے وکړو او په غېږه کښې پرتې د بخت مینې ګورې او ریښمینې زلفې ئې په خپلو لاسو هوارې کړې، د لور سره ئې په سینه پورې لږ نور هم راجوخت کړو او هغې ته ئې ووې:

"لورې! زما ټول سوچونه او فکرونه خو تر تا پورې دی، اوس به له خېره تۀ د خپل کور شې او زما

ټول غمونه به غوڅ شى، د سبا نه به ته د حويلۍ مېلمنه شې او څو ورځې پس به په سره ډولۍ کښې خپل کور ته لاړه شې"

بخت مينې د مور د جولۍ نه سر راپورته کړو، د غټو سترګو په کاڅو کښې ئې اوښکې ځلېدې، په غريو نيولې اواز ئې مور ته ووې:

"مورې! ته ولې ما پورې دومره تنګه ئې؟ زۀ د تانه هيڅ چرته نۀ ځم، ته نواب صېب ته انکار وکړه"

کشورو زر د لور په ځُلۀ لاس کېښودو.

"نه لورې! داسې مۀ وايه، ستا دې خوارې مور خوشپاړس کاله د دې موقعې انتظار کړے دے، د دومره اوږد انتظار نه پس خو قدرت دا خوشحالۍ راوستې ده، دعا کوه چې د شمېر دا يو څو ورځې په خېر تېرې شى"

کشورو د ګتو په سر د لور په انګو رواني اوښکې پاکې کړې او سترګې ئې بره د کوټې د چت نه پورې په څۀ ناليدى څيز خښې کړې.

بخت مينې چې د مور سترګو ته وکتل نو د هغې په وازو سترګو کښې ورته څۀ داسې تاثر ښکاره شو چې هغې ته داسې محسوس شوه لکه چې هغه

د مور په ګرمه غېږه کښې نه بلکې
په یوه زړه، یخه او سنګینه مقبره
کښې پرته وی.

د بخت مینې ډولۍ چې د نواب صېب د حویلۍ نه ووته نو کوز مازیګر وو، شفق په سور کفن کښې ځان انغښتے وو او د ماښام سکڼے ځادر په خورېدو وو، کشورو ډېره خوشحاله وه، خندا ئې د ورښکو نه تونیدله، چې نواب صېب زنانخانې ته رانه وتو، نو کشورو هم اخوا دې خوا وکتل او زرو غوندې د هغۀ په کمره ورننه وته، نواب صېب په خپله ارام کرسۍ کښې اوږد اوږد ناست، بلکې ملاست وو، چې کشورو ئې ولیده نو اول خو ئې تندے چوڼ غوندې شو، خو بیا د ځان سره روژو هوار شو، د کنډه بریتونو نه شکته په ورښکو کښې لږ موسکے شو او کشورو ته ئې ووې:

"راځه کشورو، د لور ښادۍ دې مبارک شه، خوشحاله خو ئې کنه؟"

کشورو خپل دواړه لاسونه په خپلو ټوټو کېښودل او په برق برق ئې وخندل.

"نواب صېب! ستا دې مبارک وی، زما نه زیاته خو دا مبارکی ستا ده، ټول عمر دې پردی لونه ډولۍ ته

خېژولـــی دی، نـن دي پـه وړومبی ځل خپلـه لــور ډولـی تـه واچولـه"

د نـواب صېب تـندے بـیـا چـونې شـو.

تـهٔ څـه وئـیل غـواړې، صفـا صفـا ووایــه"

کشورو بـیـا پـه خـندا شـوه.

"نـواب صېب! نـور درتـه څهٔ صفـا ووایـم، مـا خـو درتـه ووې چـې د لــور مـېلمستیـا او رخصتـی دې مـبـارک شـه، او . . . . . . نـواب صېب او، بـخت مـیـنـه سـتـا هـغـه لــور ده چـې تـا مـاتـه شـپـاړس کـالـه وړانـدې پـه ډولـی کـښې د خـېژولـو نـه وړانـدې پـه جـولـی کـښې اچـولـې وه"

نـواب صېب یـوه لـحظه نـېغ نـېغ د کـشـورو مـوسکـی څـهـرې تـه کـتـل او بـیـا د خپـلـی کـرسـی نـه اوچـت پـاڅېـدو، پـتـکـے ئـې د جـولـی نـه شـکـتـه پـرېـوتـو او پـه رغړېـدو رغړېـدو د کـشـورو تـر پـشـو راغـلـو.

"تـهٔ دروغ وے کـشـورو!، ووایــه چـې دا دروغ دی"

کـشـورو پـه زهـر نـاکـه لـهـجـه کـښې داسـې وخـنـدل، لـکـه چـې چـرتـه پـه وران کـنـډر کـښـې بـلـهـا شـے بـلاګـانـې پـه یـو ځـائـې پـه خـنـدا وی.

"نـواب صېب! کـومې تـوکـانـې چـې تـا مـاتـه شـپـاړس کـالـه وړانـدې زمـا پـه سپـیـنـه جـولـی کـښې اچـولـې وې، هـغـه نـن

ما واپس ستا په مخ ومړلې، دا د یوې بې وزلې ښځې انتقام وو، چې نن پوره شو، ستا نوابی غرورو نن د غریبې کشورو په خېرنو پښو ولوغړېدو"

کشورو په پښو کښې پروت د نواب صېب پتکی ته لته ورکړه او د کمرې نه بهر ووته، نواب صېب ته داسې محسوسېده چې لکه هغه د کلی په مینځ کښې بربنډ ولاړ وی او خلق راځی او په هغهٔ توکانې توکی. "اخ هو" د هغهٔ خُلهٔ ګونګه وه، خو په وازو سترګو کښې ئې د بخت میني بربنډ تصویر داسې پوخ ولاړ وو، لکه چې په سکرین باندې یو نا خوښه منظر د چا نه په خطا "ستل" شی.

بله ورځ سحر چې د نمر اولنی پلوشې د زمکې په وجود خورېدې، نو ورسره دا خبر هم په علاقه کښې خورېدو چې نواب شمشېر علی خان په نیمه شپه کښې خپل ځان په تماچه وویشتو او خودکشی ئې وکړه.

کمال لطیف شاه شاهد

# انځر ګل

غنی ګل چې د کله نه د سترګو نظر بائیللے وو نو غریب د کار روزګاره خو څۀ پاتې شوے وو چې په کور کښې هم بندیوان پروت وو، شپږ میاشتې وړاندې چې ناڅاپه د هغۀ د سترګو نظر په کمېدو شو نو یو څو ورځې خو پرې هغۀ څۀ پروا ونۀ لرله، ځکه چې یو خو غریبی وه، ډاکټر ته نزدې کېدل د تاوانی جواری نه کمه نۀ وه او بل د هغۀ دا خیال هم نۀ وو چې په یوه میاشت کښې دننه دننه به هغه داسې په تېپو شی چې په سترګو کښې به ئې د رڼا بخرے هم پاتې نۀ شی.

یو سحر چې ئې سترګې وغړولې نو د کټ سر ته ولاړه بختی ورته په رڼا ورځ د تېر ماښام د سېوری په شان ښکاره شوه، د انځر ګل سره لاس نیولے چې لوی اسپتال ته لاړو او ټستونه ئې وکړل نو زر اتۀ سوه روپۍ ئې هم ولګېدې او ډاکټرانو ورته د لوی اپرېشن ووې، چې په هغې هم شل زره روپۍ لګېدې، هغه غریب خو دومره ډېرې روپۍ په خپل پنځوس کاله ژوند کښې چرته په خوب کښې هم

نـهٔ وي لـيـدلـيې، خفـه زهيـر او نـامـراده کـور تـه راغلـو او پـه جونـګـه کـښې پـرېـوتـو. بـختـی غريـبې چې د شلـو زرو روپـو واورېـدهٔ نـو هغې هم غريـبې زړهٔ ونـيـوو، د خـوارانـو پـه کـور کـښې داسې څـهٔ څـيـز هم نـهٔ وو چې د خرڅـون جوګـه وے، پـه تـېـره تـېـره د انـځـر ګـل يـو رېـړيـو وو چې غنـی ګـل ورتـه ډېـر پـه مـيـنـه څـو ورځې وړانـدې اخستـے وو، خو هغې هم د دري څـلـورو سوو نـه زيـاتـې نـهٔ کـولـې او يـا د شپـږو اووهٔ سوو روپـو د لـرګـی هغـه لاس ګـاډے وو چې هغهٔ بـه پـکـښې پـه اوړی کـښې ائـسـکـريـم خـرڅـول، خپـل خپـلـوان کـهٔ ئـې وو هم د دې خـوارانـو نـه چـوکـی چـوکـی قـرض کـړې وې او د واپـس کـولـو ئـې څـهٔ مـخـه نـهٔ وه، دا لا ښـه وه چې د انـځـر ګـل نـه علاوه ټـول مـاشـومـان ئـې پـه وړوکـوالـی مـړهٔ وو ګـنـې اوس بـه ئـې حـال نـور بـد وو، ځـکـه چې هغهٔ خـود سر مـزدوری کـولـه او د ړنـدېـدو نـه پـس د مـزدوری جـوګـه پـاتـې نـهٔ وو، پـه نـاز لـوې شـوی انـځـر ګـل غـريـب چې د کـور حـال ولـيـدو نـو د لاسـو نـه ئـې مـړکـی او د غـاړې نـه غـلـيـل وغـورځـولـو او د پـلار د ائـسـکـريـمـو لاس ګـاډے ئـې راوان کـړو، اس بـه د غـنـی ګـل پـه ځـائـې هغهٔ د ښـار پـه کـوڅـو کـښې د "يـخ ائـسـکـريـم"

چغې وهلې، ماښام چې به ستړے ستومانه په کوڅه رانه وتو، نو مور غريبه به ورته په ور پورې ناقلاره ولاړه وه، د سپېرو سترګو دغه ايکه يوه اوښکه وه، په دعاګانو ئې غوښتے او په نيازبين توب ئې لوې کړے وو، د هغې پرې دا ورځ خو پيرزو نۀ وه ولې د ګېډې دوزخ هم خشاک غواړى، د اوړو تشې پېټۍ چې ورته وخندل نو په ډکو سترګو ئې انځر ګل مزدورى ته ونيوو، د غنى ګل هم هغه د سپينو ډکو اولاد او د اخرى عمر همسا وه، هغۀ به د ستړى ستومانه انځر ګل مخ نۀ ليدو، خو هغۀ چې به په ستړى اواز پلار ته سلام وکړو او د تولې ورځې "وتک" به ئې د هغۀ په لاسونو کښې کېښودو نو د هغۀ ړندې سترګې به راډکې غوندې شوې، د خوارلسو کالو عمر خو ختى عمر وى، په دې عمر کښې دهغۀ په زوې باندې د لاس ګاډى زړۀ چاودې مزدورى کله پېرزو وه خو مجبور وو، ناڅاپه به ئې د خُلې نه د يو سوړ اسوېلى سره ګيله وختله، خاونده! ته لوې باچا ئې، خو ستا په دې دومره لويه باچاهۍ کښې ما دپاره يو شل زره روپۍ نشته چې د اپرېشن سوب مې وکړى، بختى چې به

د هغهٔ د خُلي نه داسې قسمه خبره واورېده نو اکثر به ئې وتوکلو، چې د انځر ګل پلاره توبه وباسه، د دعا چل هم درته نهٔ درځی، د خدائې نه ځو دا رنګه غوښته کوی، خو غنی ګل به ولوېدو.

"نېک بختې! خلقو ته لکونه کروړونه ورکی، زهٔ خو ترې اپرېشن ته يو شل زره روپی غواړم چې نظر مې راشی او خپله حقه حلاله مزدوری وکړم"

بختی به غوږونو ته لاسونه يوړل.

"په هر حال کښې شکر ويستل پکار دی، کهٔ هغه وغواړی نو بغېر د اپرېشنه به نظر درکړی، د کفر تکی مهٔ کوه"

غنی ګل به د هغې خبره اورېده ولې د خپلو ګيلو نه نهٔ اورېدو.

د پشکال يو تاوژن ماښکر وو، د اسمان په لمن ناځاپه ګورې ورېځې د تنها او برېښنا سره خورې شوې.

غنی ګل د کوټې مخې ته په کچه دالان کښې پروت وو او بختی ورسره کوزه په پېړی ناسته وه، په نغری کښې ئې سر ورکړے وو، پوکی ئې وهل، لرګی شنهٔ وو او سم اور ئې نهٔ اخستو،

غنی ګل په اووم ځل هغې ته اواز وکړو:
"یه نیک بختې! دا چائې یخې شوې، کۀ په نمر دې ایښی دی"
بختی د څادر په پلو لوګی وهلی لوندې سترګې وچې کړې، یو دوه ټوخی ئې وکړل او جواب ئې وکړو:
"لږ صبر وکړه، لرګی سم نۀ بلېږی او تۀ کوم ډیوټۍ ته روان ئې؟"
غنی ګل چې د کله نه سترګې بائیللې وې نو غوږونه ئې نور هم تېرۀ شوی وو. د اسمان په ګرز ګروز کښې ئې هم د هغې خبره واورېده.
"او کنه اوس تۀ هم پېغورونه راکوه، په کور ورته کښېناستم کنه، مزدوری نۀ شم کولے ځکه دې د ډیوټۍ پېغور راکړو، حق هائې، کۀ خدائې رانه سترګې نۀ وے اخستے یا ئې دومره څۀ راکړے وے چې اپرېشن مې پرې کولے شوے نو نن به داسې د تا پېغورونو ته نۀ وم ناست، ما سپېږۀ دپاره به د هغۀ په خزانو کښې یو شل زره روپۍ هم نۀ وی نو"
هغۀ به لا نور هم څۀ وې، خو بختی د پېړی نه راپاڅېده او د تینګو چائیو ډکه پیاله ئې د غنی ګل په لاس کښې ورکړه.

"غلے شه بیا دي ګډې وږې شورو کړي، هن، دا چائې واخله، لکه د ماشومانو په وړه وړه خبره خفه کېږي، ته ځه چائې څښه، زۀ دا شے اوس کوټې ته دننه کوم، د اسمان سترګې ډکې دی، باراني ګړز ګړوز دے، خدائې دي سره زمونږ دکوټې، کچه کوټو ته خیر کړی"

بختی بهر ووته خو غنی ګل ته ئې د کچه کوټې غم تر غاړې کړو، په تېر ژمی کښې ئې هم کوټه په هر باران کښې څڅېدلې وه، څو څو ځله ئې اراده تړلې وه چې کوټه لېو کړی، خو د خوړو څښو نه بل څۀ ته سم نۀ شو او اوس دادے پشکال وربانديې راغلو. بختی یو څو زړوکی او په غولی کښې پروت جولنګه کټ کوټې ته دننه کړل.

"ما وې چې باد باران دے، دې انځر ګل نن ناوخته نۀ کړو"

د غنی ګل خبره لا په خُلۀ کښې وه چې بختی زوې ته دعا وکړه او دروازې ته روانه شوه، هغه چې د دالان نه راووته نو د باران غټ غټ څاڅکی ئې په مخ لکه د تړمو اوښکو راپرېوتل، دروازه بیا وډبېده، هغې قدم چاخ کړو.

"باران پرې راغلو، جوړ لوند شوے به وی"

هغې د ور زنځیر شکته کړو او د تیم ور ئې دننه راښکلو، د انځر ګل په ځائې په درشل پورې یو کټ پروت وو، په کټ کښې څوک پراتهٔ وو چې سپین څادر پرې غوړېدلے وو، په څادر باندې ځائې په ځائې سرهٔ داغونه ښکارېدل چې د باران څاڅکو خوارهٔ کړي وو، د کټ نه چاپېره یو څو نا اشنا کسان ولاړ وو، یو پکښې د پولیس په وردی کښې وو، بختی حېرانه ولاړه وه، کله ئې کټ ته کتل او کله نا اشنا مخونو ته، تول غلی ولاړ وو، بیا پولیس والا رو غوندې راوړاندې شو او په کټ کښې د پروت بنده د مخ نه ئې څادر پورته کړو، د بختی د سترګو په وړاندې په سپینو پټو کښې تړلے چې کوم مخ ښکارېدو هغه به هغې څنګه نهٔ پېژندو، هغې د زړهٔ د کومې نه بې اختیاره چغې کړې.

"انځرګله!"

او په کټ راپرېوته.

د انځر ګل د مرګ درېمه وه، د غنی ګل په چنه پورې یو څو کټونه پراتهٔ وو، خلق لاس نیوې ته راتلل، غنی ګل هم په یو کټ غلے غم ځپلے

ناست وو، د انځر ګل ناخاپی مرګ ئې
لکه چې ملا ماته کړې وه، هغۀ چې د
کله نه دا سپېږۀ خبره اورېدلے وو،
نو دغسې ګم سم وو، زړۀ ئې په ورو
ورو ژړېدو، ولې د سترګو نه ئې
اوښکې نۀ توئېدې، هغۀ غوښتل چې په
چغو چغو وژاړی، چې زړۀ ئې سپک شی،
خو داسې لګېده چې د سترګو نه ئې د
کتو سره سره د ژړېدو چل هم هېر
شوے وو.

"د جمعې دعا به وکړو"

چا اواز وکړو او غنی ګل لکه د
خود کار مشين لاسونه پورته کړل او
بيا ئې ښکته کړل.

"خدائې دې تول وبخښی، اخبار
ليکلی دی چې شپاړس تنه مړۀ دی"

چا خبره وکړه.

"مړۀ خو شپاړس دی خو د ژوبلو
هډو شمېره نشته، ډېره غټه چاودنه
وه"

چا جواب ورکړو.

"دا څوک ظالمان دی چې داسې بې
دريغه خلق وژنی"

يو بل کس خبره زياته کړه.

"حکومت خو وائی چې د ګاونډی
ملک پکښې لاس دے"

ورومبی کړی بيا ووې، يو بل
سړی غلې غونډې وخندل.

"حکومت خو به هم دا وائی، غل نه غلا نه کېږی، نو وائی چې شپه د جمعې ده او کهٔ د ګاونډی هم پکښې لاس وی نو تحفه کېږو دي نه، چې بل کره کانی اولو نو د ګلونو طمه به نهٔ کوو"

"او تهٔ ښهٔ وائې، مونږ پښتانهٔ خو حق نا حقه د پردو د سیاست له سره زار شو، په پردی اور کښې وسوزیدو"

چا پکښې د یو سوړ اسوېلی سره سیاسی تبصره وکړه.

"وائی چې حکومت د مړو دپاره د شل شل زره روپو اعلان وکړو"

یو سړی پکښې د موضوع د بدلېدو دپاره ووې.

"ښه........ دا خو نوې خبره ده، پخه خبره ده کهٔ اخبار لیکلی دی"

دویم سړي څوک اخبار ځپلي وو.

"اخباری خبره نهٔ ده، ما بېګاه په خپله په تی وی اورېدلی دی"

وړومبی کس خبره پخه کړه. غنی ګل د ناستو خلقو خبرې اورېدو خو پام ئې ورته نهٔ وو، د شلو زرو روپو د نوم سره ئې پام خبرو ته راوګرځېدو، د شلو زرو د امداد سره سم ورته د خپلو سترګو د اپریشن

لطیف شاه شاهد

خبره رایاده شوه، د هغهٔ په مزغو کښې د شلو زرو روپو تکرار شورو شو.
"شل زره روپۍ .......... شل زره روپۍ"
ناڅاپه ئې ټول وجود په رپېدو شو لکه ګوزن چې پرې راغلے وی، ړندې سترګې ئې لکه د اور د سکروټو سرې شوې، د زړهٔ د تل نه ئې د اوښکو یوه لویه چپه لکه د سېلاب راخلاصه شوه او رسا تر سترګو راغله، ناګهانه ئې چغې کړې:
"انځر ګله!"
او په ساندو ساندو په ژړا شو.

لطیف شاه شاهد
کتابتون

# زړۀ واخله

د غلامی قصاب د ځوان جان زوی د ناترسه مرګ خبر تر مازیګره پورې په ټول کلی کښې خور شوے وو، سلطانے چا په خپل دوکان کښې وجلے وو، قاتل د دوکان د غوښې چاړۀ د هغۀ ګوګل ته ورکوزه کړې وه، قتل د غرمې شوے وو، خو قاتل چا لیدلے ځکه نۀ وو چې د غنمو د لوونو ورځې وې، د نارنجی اسمان په سور تږق کښې یو دوکاندار هم غرمه په دوکان نۀ تېروله، ټولو به ځان یا خو پټی ته رسولو او یا کور ته، غلامی به هم وړاندې دوکان په غرمه کښې بندولو خو له څۀ مودې راسې چې به سلطانی کور کښې روټی وخوړه نو دوکان ته به راغلو او تر مازیګر به په دوکان کښې پروت وو. غلامے هم خوشحال وو چې د سلطانی رو رو د پلار نیکۀ کار ته ډېره ولګېده، په دغه ورځ هم هغۀ دولس بجې دوکان زوی ته حواله کړو او وختی مازیګر ورته لالی ټانګې والا کور ته خبر راوړو چې سلطانے چا ووژلو، نیم کلے د غلامی د دوکان مخې ته راټول وو، د پوکی نه حوالدار سره د دوه

سپایانو موقعي ته رارسېدلے وو، غلامی چې د ځوانی مرګ سلطانی غټې کټ وجود په وینو کښې خړوب ولیدو نو په مخ سر ئې راکېښو.

ګلنار چې به سحر کښې اسپتال ته تله نو د کلی بازار به لا بند وو او چې چوټی به وشوه او واپس به راتله نو هم به ټول بازار بنګړی بنګړو پروت وو، ولې یو دوکان داسې وو چې هغه به په سحر کښې هم له وخته پرانستے وو او په غرمه کښې به هم نۀ بندېدو، دا د غلامی د غوښې دوکان وو چې په دغه دواړه وختونو کښې به پرې سلطانے ناست وو، چې ګلنار به تېرېده نو دے به د دوکان مخې ته ولاړ وو، د هغې قدمونه به ئې شمېرل، چې رانزدې به شوه نو سترګې به ئې د هغې په وجود داسې وګنډلې چې ټول به سترګې سترګې شو، په شورو کښې خو به ګلنار د هغۀ په نېغ نېغ کتو قارېده، ولې چې رو رو هغه پوئې شوه چې سلطانے یو بې ضرره بنده دے او تش د هغې دیدن ته ودرېږی نو د هغې غصه لږه کمه شوه او څۀ موده پس خو د سلطانی د غټو غټو سترګو محویت او محبوبیت د هغې په زړۀ کښې هم د نازکو جذبو کرونده وکړه،

هغې هم بې اختياره انتظار شورو کړو چې کله به د هغۀ د دوکان مخې ته تېرېږی او د سلطانی د لېواله سترګو په حصار کښې به راځی، هغه په غېر محسوس انداز کښې د سلطانی د مئينو سترګو مقناطيس ځان ته راښکله. اوس به هغې هم د سلطانی د خوښ نظر جواب د سترګو په موسکا کښې ورکولو، سره د دې چې ګلنار ته ښه پته وه چې د دې قيصې څۀ انجام نشته، ځکه چې هغه د يو تعليمیافته کورنی جينی وه او په خپله هم تعليمیافته وه او د نرسنګ کورس ته به د تحصيل اسپتال ته تله، بل طرف ته هغه يو بې تعليمه جټ او کسبګر وو، د دواړو په خپلو کښې هېڅ جوړ نۀ وو، ولې بيا هم خدائې خبر کومه جذبه وه چې ګلنار ئې په سلطانی قصاب مهربانه کړه.

په دغه ورځ هم هغه د اسپتال نه واپس راتله، تکنه غرمه وه، ټول بازار خوشې پروت وو، يو دوه سپی د سلطانی د دوکان مخې ته پراتۀ، سپکېدو، دوکان پرانستے وو خو سلطانے د خپل معمول مطابق د دوکان نه بهر د ديوال سېوری ته ولاړ نۀ وو، ګلنار د هغۀ د لېدو په تکل د دوکان مخې ته پښه نيولې شوه،

سلطانے په دوکان کښې په خپل تخت
خوبولے پروت وو، داسې ښکارېده چې
غریب ته د هغې په انتظار کښې خوب
جوتېه ورکړې وه، خدائې خبر چې د
ګلنار په زړۀ کښې څۀ راغله چې
وړاندې وروستو ئې وکتل او د هغۀ
دوکان ته وروخته، د هغې په ښکالو
د نیم ویښ او نیم اودۀ سلطانی
سترګې چې وغړېدې نو د حېرانتیا نه
ئې د سترګو سره خُلۀ هم وازه
پاتې شوه. هغۀ چرته په خوب کښې هم
ګلنار د خپل دوکان دننه نۀ وه
لیدلې، دواړه سترګې ئې ومړلې او
په خپل تخت نېغ کښېناستو، حېرانې
سترګې ئې د هغې په سترګو کښې داسې
ګنډلې وې لکه چې د عمر تنده
ماتوی. ګلنار هم د یو بې اختیاره
جذبې د لاندې د هغۀ دوکان ته
راوخته خو زړۀ ئې لکه د پاڼې
رپېدو، د سلطانی د لېوالہ سترګو
اثر لا هېبت زده کړه، د خُلې نه ئې
په هېبت کښې ووتل:
"غوښه شته دے؟"
سلطانی چې د هغې د شیرینې خُلې
نه د غوښې فرمائش واورېدو نو زر
ئې چاړې ته لاس کړو.
"غوښه ډېره، څومره درکړم بې
بې!"

ګلنار غوښه کله اخسته .
"غوښه نه ......... اینه راکړه"
د ګلنار په دې غوښتنه د هغۀ په سترګو کښې مايوسی خوره شوه ، هغۀ د شرمندګۍ نه سترګې ښکته کړې او رو غوندې ئې ووې:
"اینه خو ختمه شوې ده"
ګلنار ته ئې لکه چې نور هم خوند ورکړو ، سترګې ئې د شوخۍ نه وځلېدې ، د هغۀ سادګۍ ئې سمه لکه زړۀ ته کوزېده .
"ښه نو بیا زړۀ راکړه"
هغۀ پورته د ګلنار په شوخو سترګو کښې وکتل او په تندی راماته یخه خوله ئې په لستونې پاکه کړه .
"زړۀ خو مې درکړے دے"
ګلنار د هغۀ په دې بې باکه جواب لکه د یخې بېرې سړۀ شوه ، سترګې ئې له حجابه ټیټې کړې او رو غوندې ئې هغۀ ته ووې:
"په ځُلۀ خو هر څوک زړۀ ورکوی ، کۀ راکوې ئې نو په رښتیا ئې راکړه"
د ګلنار په دې خبره سلطانے داسې ویشېدو لکه چې شیبره تبه پرې راغلې وی ، مخ ئې تر غوږونو سرو شو او سترګې ئې لکه د سکروټو بلې

شوې، په پردی غوندې ډېر اواز ئې ګلنار ته ووې:
"چې په رښتیا ئې درکړم نو زما مینه به ومنې؟"
ګلنار په سترګو کښې یو شوخ غوندې چېلنج نیولے د هغهٔ سترګو ته کتل، لکه چې وائی "پرېږده په رښتیا څوک چاته زړهٔ کله ورکوی" ناګهانه هغه وشو چې د ګلنار په خوب او خیال کښې هم نهٔ وو. سلطانی په لاس کښې نیولې چاړهٔ پورته کړه، په ګلنار ئې یو پوخ او خوږ نظر واچولو او د بجلۍ د پړق په شان ئې دومره په صفائۍ سره ګوګل ته کوزه کړه چې په ګوګل کښې پروت د زړهٔ څهٔ برخه خو ئې هغې په خپلو سترګو ولیده، هغه چې د تخت نه زمکې ته پرېوتو نو په سترګو کښې ئې د کامیابۍ ځلا او په موسکو شونډو ئې څهٔ نیمګړې خبره وه، شاید چې هغهٔ ګلنار ته وئیل غوښتل چې "هن، زړهٔ واخله"
د سلطانی قتل فائل هم څهٔ موده پس د نامعلوم قاتل په نامه بند شو، ګلنار لا تراوسه ژوندی ده، هغه د نوکرۍ نه ریټائر شوې ده او لاتراوسه د پلار په کور ناسته ده، د هرې جمعې په شپه هغه هدیرې ته

ضرور ځی او هلته په یو وران غونډې
زوړ قبر دیوه ضرور بلوی.

کېماله لطیف شاه شاهد

# تنده

یو خواته د یار د میاشتې لېونۍ ګرمۍ او تاوده سپېره بادونه او بل خوا د بجلۍ ناروا لوډ شیډنګ، فرشونه او دېوالونه داسې تاوده لکه وسپنه چې د بټۍ نه راوزي او کټونه داسې ترم لکه چې تبې نیولي دي، الفت ته داسې محسوسېده لکه چې هغه په خپله کوټه کښې نه بلکې په سور تنور کښې پرته وي، خوله ئې د سر نه تر پوندو په ټول بدن بهېده، ټول وجود ئې مالګه مالګه کېدو، د کټ بوڼ ئې په لوند وجود لکه د سکروټو لګېده، تنده ئې لا نه ماتېده، لحظه په لحظه د کوټې په ګُټ کښې پروت سور منګی ته تله او ډک کټورے اوبه ئې څښلې ولې سود ئې نه کېدو، د بجلۍ د تللو راتللو د لاسه فریجونو هم کار پرېښے وو، ګرمۍ خو د ډېرو ورځو نه چکونه لګول او لوډ شیډنګ هم څه نوې خبره نه وه خو هغه کله هم داسې تنګه شوې نه وه لکه نن چې ناقلاره وه، یو ځل خو ئې بهر دالان ته د وتو اراده وکړه خو لا وتې نه وه چې د پلار د خراشکۍ تېز اواز ئې تر غوږو

شو، هغه غریب هم جوړې ګرمۍ ځپلې دالان ته راوتې وو، اوس خو هغه لا په کوټه کښې بندیوانه شوه، ځکه چې د پلار مخې ته خو بې لوپټې تللې نۀ شوه او نن خو لوپټه څۀ چېډ تن اغوستې نرۍ د ویل جامې هم هغې ته په خپل وجود پورې درنې لګېدې.

"شکر دے چې د سکول چوټیانې شوې او د برقې نه خلاصه شوم"

هغه د ځان سره وګونېده. الفت ته پلار صرف په دې شرط هائی سکول کښې د داخلې اجازت ورکړے وو چې په بنده برقه کښې به ځی راځی، هغه په ټول سکول کښې یوازې جینۍ وه چې په شټل کاک برقه کښې به تله او ولې نه اخر سیدان وو، څۀ ټوقه نۀ وه.

الفت ته خوب ورتلو خو د ګرمۍ او د خولو دلاسه په کټ کښې اوړېده، راوړېده، بېګانۍ شپه ئې هم ټوله شوګېره کړې وه، د بېګانۍ شپې تصور ئې څۀ دماغ ته راغلو چې ناڅاپه ئې زړۀ په درزېدو شو، حلق ئې وچ شو او وجود ئې مېږۍ مېږۍ شو، د بدن ټوله وینه ئې لکه چې مخ ته راغونده شوه، ناګهانه ئې منګۍ ته پښې ابلې پښې منډه کړه او یو ډک کټورے اوبۀ ئې له ستونۍ تېرې کړې، زړۀ ئې لا هغسې بې واره درزېدو، د

منګی د خوا نه چې پاڅېده نو بې
اختیاره ئې لاسونه پورته کړه او
یوه اوږده ستوماني ئې وویسته،
ناڅاپه ئې نظر په مخامخ لګېدلی د
زوړ سینګار مېز په خړه شیشه
پرېوتو، نظر ئې په شیشه باندې خښ
غوندې شو، هغې وړاندې هم په دې
خړه شیشه کښې څو ځله ځان ته
کتلي وو، ولې نن چې ئې په کومه
زاویه ځان په شیشه کښې ولیدو هغه
څۀ نوې غوندې وه، په هغې نن د یو
شکلی او رنګین راز انکشاف غوندې
وشو، د هغې حېراني سترګې په شیشه
خښې وې خو نظر ئې څۀ بل څۀ لیدل،
د سینګار مېز خړه شیشه د هغې په
تصور کښې لکه د سینما د سکرین
راښکاره شوه، په خپلو ګښې ګډوډ او
لړزانده، دوه ناجانه شان عکسونه،
لکه سېوری دوه بې مخه وجودونه،
ورسره یو څو مبهم شان، بې لفظونو،
بې مطلبه، بې معنئ شان اوازونه،
الفت په ټول وجود باندې زیګ زیګ
شوه، دواړه سترګې او دواړه لاسونه
ئې زر شکته کړل لکه چې په خپله
ستوماني ویستو ستومانه شوې وی،
لوپټه خو ئې په کټ کښې پرته وه،
دواړه لاسونه ئې بې اختیاره په
سینه وتړل، لکه چې ځان د خپله

ځانه پټوي، خو نمر په ګُټه کله
پټېږي، هغې بې اختياره خپل نوی
عکس ته په هره هره زاويه کتل او
په هره زاويه ورته خپل حسن په نوی
رنګ کښې ښکارېدو، هغه د وخت او د
لمحو له قېده بې نيازه د شيشې
وړاندې ولاړه وه، د پکی د غرېدو
اواز هغه واپس د خود دنيا ته
راستنه کړه، د بلې کوټې نه ئې مور
هم پلار ته ناري کړې چې راځه بجلی
راغله، الفت په خړه شيشه اخری نظر
واچولو، په شيشه کښې د هغې ټول
عکس خونه ښکارېدو، ولې چې ځومره
ضروري وو هغه ټول ښکارېدو، هغه د
سينګار مېز نه په ډېره شوه او بې
مجاله په کټ کښې په درز پرېوته،
پکے په پوره رفتار تاوېده، باد ئې
ګرم وو خو د هغې په لوند خوشت
وجود داسې لګېدو لکه چې د اباسين
د غاړې رالوتےوی. بېګاه هغه په
غولی کښې پکی ته اوده وه او مور
پلار ئې بره په کوټه پراته وو، د
هغې سترګې دکوټې په تازه چونه شوی
چت لګېدلې وې، ناڅاپه ورته د کوټې
چت لکه د سينما په سکرين کښې بدل
شو او په دې سکرين باندې هم هغه
تت تت توربخن تصويرونه بيا
راښکاره شول، په خپلو کښې ګډوډ او

لږزانده دوه ناجانه شان
عکسونه،لکه سیوری دوه بې مخه
وجودونه، ورسره یو څو مبهم شان،
بې لفظونو، بې مطلبه، بې معنیٰ شان
اوازونه، د الفت په وجود بیا میږی
خوارهٔ شو، هغې سترګې پټې کړې، خو
د خیال سترګې نهٔ پټېږی، نهٔ
ړندیږی، هغه په اړخ واوړیده، خو
پام ئې بدل نهٔ شو، په سینه کښې ئې
زړهٔ داسې درزیدو چې تر غوږونو ئې
درزا راتلله، هغې په زړهٔ لاس
کېښودو، د لاس په لمس ئې د زړهٔ
درزا خو څهٔ کمه نهٔ شوه چې ساه ئې
هم بده بده شوه، د لمس خوارهٔ زهر
ئې په نس نس کښې خوارهٔ غونډې شو،
هغه بې خوده شوه، د بڼو شپول ئې
په سترګو باندې درونده غونډې شو،
نیم کښو سترګې ئې نشه شوې، ګلابي
غونډې شوې، واړه حسونه ئې په سینه
پروت د یو لاس په نرم لمس کښې را
یو ځائې غونډې شو، په ټول وجود
کښې ئې نرۍ څړیکې شوې او بیا ئې
ورو ورو ټول وجود یوه خوږه څړیکه
شوه.

الفت چې د کوټې ور لرې کړو او
دالان ته راووته نو بهر دنیا بدله
وه، اسمان د اوښانو وریځو
نه ډک وو، د دې اوښانو قافلې د

اسمان په دشته خورېدې او د زمکې
په دشته درنګ ساعت له ورېدې، الفت
د ځان سره سوچ کولو چې کۀ باران
نۀ وی نو د تېرې زمکې زړۀ خو به
پړق وچوی، ناڅاپه غټ غټ څاڅکی
راورېدو، هغې بې اختیاره لاس د
باران څاڅکو ته ونیوۀ، یخو څاڅکو
ورته د تلی سره ټول وجود یخ
کړو، هغې یو پوخ نظر د مور او پلار
د کوټې په بند ورو واچولو او د دې
نه ورانډې چې ور د سینما په سکرین
کښې بدل شوے وے، هغې په دواړو
سترګو لاسونه کېښودل او د باران
شېبې ته ورغاړه وته.

لطیف شاه شاهد

# ځنګل

د شفق لاسونه د رڼا په وینه ککړ وو، د تورې شپې بدرنګ څادر د هغۀ د کور په ویړ انګڼ لا پوره خور شوے نۀ وو، خو د ماښام سپېږۀ لړه د هغۀ د کور په دېوالونو راکوزه شوې وه، رخصتېدونکې نمر خپلې الوانې پلوشې په خپل موتي کښې راټولې کړې وې، د روژې د ماتېدو وخت وو او ټول خلق د روژه ماتی دپاره خپلو خپلو کورونو ته تلو، د ګُو ګُو د غږ سره سم په هر کور کښې وړو لویو روژه ماته کړه، خو نه، په هر کور کښې نه، نن پوره دریمه ورځ وه چې د هغۀ کور ته د ګُو ګُو اواز خو راتلو، خو د هغۀ او د هغۀ د کور خلقو روژه نۀ ماتېده، هغه او د هغۀ د کور ټول خلق د لوږې تندې نه نیم ځانه او مړغېږن پراتۀ وو، هغه د خپل جولنګه کټ نه ښکته ژوبل پروت وو، سپینه ږیره او سپین سر دواړه ئې په خپله وینه داسې رنګ وو لکه چې چا نکریزې ورکړې وی، لاسونه، پښې او جامې ئې هم په وینو او خاورو لړلې وې، په خړو خړو سترګو کښې ئې لا ساه غړېده،

ځکه چې لحظه پس به ئې لړه نېولې
سترګې د شېربانو او شېرينۍ په لور
پورته کړې، هغه دواړه هم د درې
ورځو په فاقه په انګڼ کښې د دېوال
خواته نيم ځانه پرتې وې. عجب خان
خو په وړومبۍ ورځ په کوټه اوړېدلے
وو او پښې ئې سپکې کړې وې، مشکنړه
او زناکۍ خو دوه ورځې په انګڼ کښې
کاواکې ګرځېدې چې دا ځۀ اوشو، خو
نن سحر لکه چې دواړه د لوږې نه
مجبوره شوې او خپله مخه ئې وکړه.
شېربانو او شېرينۍ د هغۀ د مينې
په پړۍ ترلې وې، هغۀ چې به د
دواړو بې وسۍ لېده نو د زړۀ نه به
ئې د درد ځړيکه تر سترګو راغله،
خو دې ځړيکې ځان سره د اوښکو چپه
نۀ راوړه، د وينې سرۀ د هغۀ په
وجود کښې لکه چې اوښکې هم ختمې
شوې وې، د ګُو ګُو په اواز هغۀ په
خپلو تراړو شونډو ژبه ووهله، ژبه
ئې داسې وچه وه کله د خزان پاڼه
چې وچه وی.
ګل محمد د مور پلار مشر زوې
وو، د ماشوموالی نه ډېر نيازبين
او د مور پلار د سترګو تور، د زړۀ
ټکور وو، داسې نۀ وه چې ګڼی د مور
پلار يو زوې وو، کشر ورور ئې هم وو
او غړې خوينډې هم، خو د ګل محمد

غونډي نازونه بل د چا هم نهٔ وو، د هغهٔ هر شے د نورو نه په فرق وو، خوراک څښاک، جامه پېزار، هر څيز ښهٔ اعلیٰ او د نورو نه بيل، د چترالی واسکټ جېبونه به ئې هر وخت د بادامو، چلغوزو، د ميوو او د پستو نه ډک وو، غلېل به ئې په غاړه وو او د کلی په لارو کوڅو کښې به په يو درز ګرځېدو، د نيازبين توب اثر ئې په مزاج باندې څرګند ليدے شو، هغهٔ چې به په کوم څيز ګوته کېښوه نو دنيا به په بله واوړېده خو هغه به د خپلې خبرې نه نهٔ اوړېدو، چې زلمے شو نو ضدونه او نازونه ئې هم هغه وو خو اندازونه ئې بدل شو، په تربورانو کښې په يوه پېغله مئين شو او زړهٔ ئې پرې داسې بائيلو چې مور پلار ته ئې کرښه راښکله چې کهٔ وادهٔ کوم نو د زرمينې سره به کوم ګنې تر مرګه به د وادهٔ نوم نهٔ اخلم، مور او پلار ئې په جرګو، په مرکو د هغهٔ دپاره د زرمينې لاس وغوښتو، خو هغه د وړوکوالی نه د خپل ترهٔ د زوې په نوم وه، تربورانو د هغهٔ څهٔ پروا لرله، پوټ انکار ئې وکړو، د زرمينې کشره خور ګل مينه ئې په خوشحالی ورکوله خو ګل محمد د دې

کله عادت وو، دا د هغۀ د ژوند
وړومبے تیندک وو، د انکار نه پس
څۀ موده خو لېونے لېونے ګرځېدو خو
د زرمینې د وادۀ نه پس ئې زړۀ قلار
شو او یو بل کار ته ئې مخه شوه،
په وطن کښې د ازادی تحریک روان
وو، هغه د خپل کلي د یو څو نورو
زلمو سره په دې تحریک کښې داسې
شامل شو چې هر څۀ ئې هېر کړل، سرې
جامې به ئې اغوستې وې او د ملګرو
سره به په کلو کلو ګرځېدو، د کور
او د جېل فرق ئې ختم شو، دوه دوه
کاله به د انګریز په جېل کښې
بندیوان وو، خلاص به نۀ وو چې بیا
به بندیوان شو، مور او پلار دواړه
ئې د سرې ډولۍ په ارمان تورو
خاورو ته لاړ، خوېندې ئې ټولې وادۀ
شوې او ورور ئې هم خپل کور اباد
کړو، هغۀ هاغسې د مور پلار په زوړ
کور کښې ژوند کولو، کشر ورور خان
محمد ورسره دیوال په دیوال
اوسېدو، خو د هغۀ سره ئې تعلق نۀ
ساتلو. ګل محمد سپین زړے او ساده
سړے وو، خو خان محمد لالچي او کینه
ور وو، د هغۀ ګل محمد سره دا کینه
وه چې پلار خپل زوړ کور هغۀ ته
ورکړے وو، هغۀ زړۀ ته دا خبره
اچولې وه او ګل محمد سره ئې دا

پتنه پاﷲ، خو ګل محمد د هغهٔ هېڅ
پروا نهٔ لرله، هغه په خپل کور کښې
يوازې نهٔ وو، هغه په خپل کور کښې
د خپلو ګڼو بې زبانه بچو سره خوښ
وو، چېلۍ، چرګې، چرګان، کونترې او
نور ګڼ مارغان د هغهٔ د اخرى عمر
ملګرى وو، هغهٔ به هر څهٔ ساتل خو
چيلے به ئې کله هم نهٔ ساتلو، چيلے
به هغهٔ ته د خپل وروور خان محمد
غوندې ښکاريدو چې د هغهٔ کور ته غل
وو، وروور د هغهٔ ډېر بدى شو خو په
خوېندو هغه ډېر مئين وو، دا بيله
خبره وه چې خوېندې ئې ټولې د کلى
نه بهر وادهٔ وې، خو په کال اختر
به هغه د خوېندو کره ضرور تلو، د
خوېندو هم د خان محمد نه زيات په
ګل محمد سترګې سرېدې، د دې يوه
وجه خو د خان محمد بې خوندى وه او
بله د ګل محمد مينه او د هغهٔ
ميراته ورځ او په تېره تېره د هغهٔ
مشره خور به د هغهٔ په يوازې ژوند
ډېره ترسېده، منتې زارى به ئې
ورته کولې چې وروره اوس کمزورے
ئې، راځه زما سره شه، کونډه ښځه
يم په يو بل به مو زړهٔ جوړ وى، خو
ګل محمد چې خپل غېرت او پښتو وچ
کړے وو، هغه د خور په کور کله

ډېره کېدو، هغه په خپل غوجل کښې خوښ وو.

چې رمضان شورو شو نو هغۀ د روژو طاقت نۀ لرلو، خو چرې په عمر کښې ئې روژه نۀ وه پرېښودې، نو اوس به ئې خنګه پرېښوه، د اسو میاشت په ختمېدو وه، شپه یخه شوې وه، هغه په نرى ځان کښې په خپل انګڼ کښې اوده وو، کله نه چې تېر کال په مخه زلزلې راغلې وې، نو هغۀ د کوټې څملاستل پرېښودى وو، د زلزلې له ویرې ئې ټول ژمے په غټه بړستن کښې په دالان کښې تېر کړے وو، د پیشمنى ګوګو چې وغږېدو نو هغه له خوبه راویښ شو، خو وجود ئې د کټ نه د پاڅېدو نه انکارى غوندې وو، لاسونه پښې ئې منمڼ درانۀ وو، ګس اړخ ته وجود ئې بېخی اودۀ وو، لکه چې فالج پرې راغلے وی، هغۀ ډېر کوشش وکړو چې د کټ نه پورته شی خو وجود ئې لکه د کانی د خپل ځایه نۀ خوزېدو، یو ځلې ئې زور وکړو چې په ډډه واوړى او دا وار ئې وجود د کټ نه شکته راپرېوتو او سر ئې زمکې ته راغلو، د سر نه ئې وینو دارې وهلې، د هغۀ په سترګو کښې د بې وسۍ اوښکې او د سر وینې سره ګډې وډې شوې، د پیشمنى د

بندېدو کوکو چې ئې تر غوږ شو، نو
په زمکه پروت، په وینو لړلې په
تشه کېده ئې د روژې نیت وتړلو، خو
خبر نۀ وو چې هغه تر ماښامه نه،
تر ژونده د روژې نیت تړی.

گل محمد سترگې وغړولې، هغۀ ته
داسې محسوس شوه چې څوک ورته د سر
په ویښتو کښې په مینه مینه نرمې
نرمې گوتې وهی، هغه د هوش او بې
هوشۍ په برید ولاړ وو، د هغۀ وچ
حلق او سپور ستونی نه یو نرے
غوندې اواز پورته شو.

"مورکی، مورکی"

هغه د ځان سره گونېدو او د
هغۀ په ویښتو کښې د نرم لمس نشه د
هغۀ په ټول وجود خورېده، د هغۀ د
گونېدو په جواب کښې د "مے مے مے"
اواز د هغۀ غوږونو ته راغلو، هغۀ
خپلې مړاوې مړغېژنې سترگې د اواز
په لور کړې کړې، شېربانو خدائې
خبر څنگه خپل پړے شلولے وو او د
هغۀ خواته راغلې وه، هغې خپله یوه
پښه پورته کړې وه او د گل محمد په
سپینو ویښتو کښې ئې داسې ورو ورو
خوزوله لکه په ماشوموالی کښې چې
به مور هغۀ ته په ویښتو کښې د
خپلو گوتو ږمنځ وهله، د هغۀ وازې
سترگې هم د مینې نه ډکې شوې او

لطیف شاه شاهد

کله چې هغهٔ خپلې سترې سترګې پټې کړې نو د هغهٔ په بڼو دوه رڼې اوښکې ځلېدې.

کېماله لطیف شاه شاهد

# مینه ګل

مینه ګل زما د ترور لور وه، شکلې، خنده رویه او مینه ناکه مینه ګل په رښتیا چې مینه مینه او ګل ګل وه، خپل نوم ئې کوثر وو خو وړو لویو ټولو به ورته د مینې نه مینه ګل وې، هغه په ورونو خویندو کښې له ټولو مشره وه، زمونږه ترور کونډه وه خو ډیره همتناکه ښځه وه، د خاوند د مرګ نه وروستو ئې د شپږو ماشومانو بچو پالنه ډیر په ناز، خیال او ویښو سترګو کړې وه، په اولاد کښې ئې یوه مینه ګل داسې وه چې لږه لویه وه او مور سره ئې لاس کولو، ګنې نور خو ټول ماشومان وو، په سخت وخت کښې ترې ټول خاندان ځان په ډډه کړے وو، یو زمونږ د کور تعلق ورسره ښۀ وو، ځکه چې یو خو مونږ سره دیوال په دیوال په چنه پورې اوسېدل او بل زما د مور او د ترور خپلو کښې مینه په رښتیا لکه د "ابۍ راوړو" وه، زما زیات وخت به د خپل کور په ځائې د ترور په کور تېریدو، د دې وجه دا وه چې یو خو زۀ د مور پلار یوازې اولاد ومه او په کور کښې

ماسره د لوبو څوک نۀ وو او بله
غټه وجه دا وه چې د ترور کره مې
مینه ګله وه، مور مې خاندی چې د
مینه ګل سره زما مینه د هغې ورځې
وه چې کله هغې زۀ په وړومبی ځلې
په اوربنی کښې شکل کړے وم، چې په
ښۀ بد پوئې شوم نو د هغې په لمن
پسې به داسې ګرځېدم لکه چې ساه مې
په هغې کښې وه، چې هغه به د کور
په کار روزګار لګیا وه، نو د پلو
پیسکه به ئې زما په لاسو کښې وه،
کله کله چې به هغې د مشین کار
کولو، نو ما به د لاسو په پیاله
کښې خپل مخ نیولے وو او د هغې مخ
ته به مې کتل، د زړۀ نه زړۀ ته لار
وی، هغه هم په ما ډېره مئینه وه،
په کور کښې زما همزولی د هغې خپل
وروڼه هم وو، خو ګومره مینه چې
هغې ماته راکوله، دومره ئې هغو ته
نۀ ورکوله، اکثر به ئې زۀ په غېږه
کښې راونیوم او په سر کښې به ئې
راته تېل اچول، د اوړی په لویو
غرمو او د ژمی په یخو شپو کښې به
ئې د ځان سره ځملولم او د پیریانو
ښاپېړو قیصې به ئې راته کولې. غرض
دا چې زۀ او مینه ګل د یو بل لیلا
مجنون وو، ترور به مې کله مور
ته په خندا ووې چې د دې دواړو

دومره مینه خو کله کله ما یروی چې سبا مینه ګل د پردی کور شی، نو د دې دوارو به څهٔ حال وی، رښتیا خو دا ده چې هغه وخت زهٔ هډو د پردی کور په مطلب نهٔ پوهېدم ځکه چې زهٔ د اتو او مینه ګل د شپاړسو کالو وه.

وخت تېرېدو، لږه موده پس مینه ګل لسم پاس کړو او په کور کښېناسته، زهٔ په پینځم جماعت کښې وم چې زما په قلار ژوند کښې وړومبے کاڼے راپرېوتو، یوه ورځ څهٔ نا اشنا غوندې ښځې زما د ترور کره راغلې او ماښام مې واورېدو چې مینه ګل پسې رشته راغلې ده او هلک د ټولو خوښ دے، تر دې وخته زهٔ د دې خبرې په اهمیت نهٔ پوهېدم، څو ورځې پس هم هغه ښځې بیا راغلې او مینه ګل ته ئې د سرو زرو ګوته په لاس کړه، مور مې وې چې مینه ګل شهسوار ته په نامه شوه، ما به د دې کوژدن هم څهٔ ډېره پروا نهٔ وے لرلے، خو کهٔ مینه ګل رانه پټ پټ په ګنګوسو کښې د شهسوار په بابت تپوسونه نهٔ کولے، هغه څنګه دے، هغهٔ تاسره خبرې وکړې او کهٔ نه، هغه ستا خوښ شو او کهٔ نه، په شهسوار کښې د هغې دومره دلچسپی په

کماله
لطیف شاه شاهد

ما بیخی ښه نهٔ لګېده، هسې هم د کوژدن په ورځ چې ما شهسوار ولیدو، نو خوښ مې نهٔ شو، تور سکنړے رنګ، اوږده پوزه او لنډه ونه، په هغهٔ کښې ماته داسې هېڅ نهٔ ښکارېدو چې مینه ګل ئې زما نه په شرمېدو شرمېدو تېوسونه کول، چرته زما سره سپینه او دنګه لوره مینه ګل او چرته لکه د سوزېدلی وګی په شان شهسوار لالا، زما هغه بیخی خوښ نهٔ شو او په جار مې تهولو ته وویل چې زما خوښ نهٔ دے، مینه ګل چې واورېدو په ژوند کښې وړومبی ځلې زمانه خفه شوه، زهٔ په دې لا وقارېدم، چې هغه د یو داسې سړی په سر مانه خفه وه چې په خپله ئې لا لیدلے هم نهٔ وو، ماته هم دومره غصه راغله چې تر کومې هغې په خوله نهٔ کړم، د کور په لور نهٔ ورتلم، د وخت پایه لږه نوره وګرځېده، یوه ورځ مې واورېدو چې د مینه ګل د وادهٔ نېټه مقرر شوه، دغه ورځو کښې هغه ډېره نا وزګاره وه، تهوله ورځ به ئې په مشین د خپل وادهٔ سرې او شنې جوړې ګنډلې، دهغې نه چې به وزګاره شوه نو هم به د ائینې مخې ته ولاړه اکثر په سوچونو کښې ډوبه وه، ماسره خبرو ته هغې سره وخت

قدري نۀ وو، زۀ په ټول وجود
سوزېدم خو هغه زما د حال نه بې
خبره وه، ماته د هغې د دې بې
نيازۍ ذمه وار شهسوار لالا ښکارېدو،
زما په دې کرلو رېبلو کښې د وادۀ
ورځ راغله، تر دې وخته زۀ په دې
خبره پوره پوره رسېدلے وم چې مينه
ګل د همېشه دپاره زمانه بيلېږي. د
وادۀ په ورځ زما همزولی ټول د
وادۀ په تماشو او دستورونو کښې
مشغول وو او زۀ د کور په يو ګټ
کښې خاموش ناست وم، ماته داسې
ښکارېده لکه چې د مينه ګل جنازه
تياره وی او په جنج راغلی خلق هغه
زمانه تورو خاورو ته وړی، ناڅاپه
په جنج کښې چا بې واره ډزې شورو
کړې، د ډزو سره سم يو ناوياته
خيال لکه د بجلۍ په شان زما په
دماغ کښې وپرقېدو او زۀ په خپل
ټرانس کښې د هغې ځايه روان کړم او
د خپل پلار ټوټو تماچه ئې لاس کښې
راکړه.

د شهسوار لال د ځوان مرګ خبره
ورو ورو سره شوه، ولې د مينه ګل
په تندی ئې د نحومت داسې داغ
پرېښودو چې زما يقين دے چې تر
ډېرې مودې به څوک دا جرات ونۀ کړی
چې د هغې لاس وغواړی، زما د لاله د

وادۀ د هلک په ګولی لګېدل زما غلطی خو هر چا ګڼله، ولې په ما د قتل عمر دعوه چا هم نۀ شوه کولے، د دوولسو دیارلسو کالو د هلک د ادۀ د زلمی سره څۀ دشمنی کېدے شی، زما یقین دے چې مینه ګل به ډېر زر خپل غم او زما غلطی هېره کړی، بس د یو څو کالو خبره ده، بیا به څوک هم زما او د مینه ګل په وادۀ اعتراض ونۀ کړی، زما د دې یقین په حقله ستاسو څۀ خیال دے؟

ګېماله
لطيف شاه شاهد

# تروږمی

د ژمی کړۀ وړۀ پلا پوره پاخۀ شوی نۀ وو، خو د تېرو درې ورځو د بارانونو سره ئې د وخت نه لږ وړاندې د خپل زور څرګندونه کړې وه، د خړ اسمان لمن لا هغسې د ستورو نه خالی وه، د مازیګر او ماښام ترمینځه یوې لحظې ته د څاڅکو په مستقل مزاجی کښې لږ کمے راغلے وو، ځکه خو په جومات کښې د ملائی صېب په شا د هغۀ د مقتدیانو شمېره د ماښام په مانځه کښې لږه زیاته وه، ګنې په تېرو درې ورځو کښې خو د جړی د لاسه دا حال وو چې په جومات کښې به د څلور شپږو کسانو نه زیاته جمع نۀ جوړېده، د سحر او ماسخوتن په مونځونو کښې خو به مناف حاجی صېب او ډېران شاه کاکا نه علاوه بل هېڅ څوک نۀ وو او دا یوازې د جومات خبره نۀ وه، حجرې هم خوشې پرتې وې او پتی ته نزدې کېدل هم ګرانه وه، ټول کلے په دې جړی کښې څۀ انغښتے شان ښکاریدو.

ملائی صېب په کټ کښې ډېره واړوله او خپله زړه شړی ئې یو ځلې

بیا د خپل یخ کخ وجود سره لکه چې وګنډله، خو په زړه دسته شړی کښې هغه پسته ګرمی چرته وه چې د هغۀ واورین هډوکی ئې تاودۀ کړی وے، د زړې ورستې شړی سره سمه هغۀ ته شمشاده رایاده شوه.

"نن خو ئې ټوخے لږ قلار دے"

هغه د ځان سره وګونګېدو، شمشادې لکه چې په کوټه کښې دننه د هغۀ ګنګوسه واورېده او ناڅاپه د یو تسلسل سره په ټوخ ټوخ سر شوه، د هغۀ په مزغو لکه چې د ستک ګوزارونه شورو شول، هغۀ په دواړو غوږونو کښې ګوتې ورکړې او سترګې ئې د دالان په زوړ چت کښې لګېدلی په کړو وړو لرګو خښې کړې.

"رب العالمینه! زمونږه سختې اسانې کړې، ذوالجلاله! په مونږ د خپل رحم پردې واچوې، خاونده! زمونږ ..........."

هغۀ په غریو نیولی اواز دعاګانې شورو کړې، د سترګو په اسمان ئې خړه راغله او په مری کښې ئې د اوښکو غوټه جوړه شوه، د باران څاڅکی هم لکه چې چا تېز کړل، د کوټې نه په یوه مخه د ټوخ ټوخ اوازونه د یو خاص تسلسل سره

راتلل، ناڅاپه د کوټې دننه باتۍ بله شوه.

"ځانګه غریبه هم راویښه شوه"

ملائی صېب بیا د ځان سره وګونېدو، دا د روزانه روټین وو، شپه کښې چې به د هغې ټوخې زیات شو نو ګل ځانګې به د سرو دارو شیشه د هغې په خُلهٔ ورواړوله، په سرو دارو کښې بل کهٔ څهٔ وو او کهٔ نه خو دومره نشه پکښې ضرور وه چې تر سحره به هغه لږه په قلاره شوه، کوټه کښې دننه باتۍ مړه شوه.

"ځانګه غریبه........"

هغه بیا د ځان سره وګونېدو، ناګهانه د هغهٔ په شړی کښې ګرمی وشوه، حلق ئې هم وچ غوندې شو، یو دم ئې شړی له ځانه وغورزوله، په کټ کښې نیغ کښېناستو او د کټ سر ته پروت منګی نه ئې یو ډک کنډول اوبهٔ په غړ غړ په خُلهٔ داسې راواړولې لکه چې د مودو جل وهلے وی.

د ملائی صېب نوم خو فضل منان وو خو د امامتی په برکت به ورته مشرانو، کشرانو ټولو ملائی صېب وئیل. شل کاله وړاندې په هلکوانی کښې د بره دیر نه شکته راغلے وو او په سمه داسې اباد شو چې واپس

په بره د تلو نوم ئې وانهٔ خستو، د
کلی په جومات کښې امام شو او څهٔ
موده پس ئې د یو غریب دهقان تاجی
کاکا لور په نکاح کړه.
شمشاده د هغهٔ سره د هغهٔ په
کوټنۍ کښې داسې خوشحاله وه لکه چې
د نوشیروان باچا محل ته راغلی وی،
تاجلے کاکا هم لکه چې د هغې د
وادهٔ په انتظار وو، په دریمه
میاشت ئې سترګې پټې کړې او د
پینځو کالو یتیمه یسیره ګل څانګه
د شمشادې ذمه واری شوه. ملائی صېب
هم ګل څانګه لکه د لور په شان
لویوله، د خدائې کول هم داسې وو
چې د شمشادې په جولۍ کښې ګل ونهٔ
ټوکېدو او ګل څانګه ئې د انګڼ ګل
هم شو او څانګه هم، د وادهٔ نه پس
لس کاله هغه د خاوند سره د
خوشحالو په تال زنګېده، ولې د
معموی ټوخی نه ورته په چل چل کښې
د ټی بی نرے رنځ جوړ شو، خو هغه
غریبه هله خبر شوه چې په لپو ئې
وینه وغورزوله، په کلی کښې د ټی
بی علاج نهٔ وو او ښار ته د تلو د
ملائی صېب وس نهٔ وو، نو بیماری ئې
زیاته شوه، څهٔ موده پس هغهٔ د یو
بل نه قرض پور وکړو او شمشاده ئې
د ښار لوي اسپتال ته بوتله خو

اوبهٔ له ورښه تېرې وې، څانګه
غریبه شپه ورځ د خور په خدمت کښې
اخته وه، شمشاده پښه په کټ
پرېوته، د ملائی صېب کور وران شو،
د تېرو دوو کالو راسې د هغهٔ
غوږونو په پردو د تهوخ تهوخ اوازونه
لکه د ستک لګېدل، د شمشادې نه د
هډوکو پنجره جوړه وه، رنګ ئې لکه
د سواتی وریژې کچه زیړ شوے وو، د
خبرو شان ورسره نهٔ وو، چې دوه
خبرې به ئې وکړې نو څلور تهوخی به
ئې وریسې سم کول، هغهٔ ته د ښار
ډاکټرانو دا هم وئیلی وو چې د
مریض سره زیات نزدې کېدل او خوړل
څښل هم ښهٔ نهٔ دی، هغه به په ورځ
کښې یو ځل د هغې خواته ضرور راتلو
خو لرې په ډېره به تېرې کښېناستو،
سبق به ئې هم ورته وئیلو خو د لرې
نه به ئې پرې چوف کړو، هغې د ملائی
صېب رویه لیده خو په ځُلهٔ ئې چرې
ګیله نهٔ وه راغلې، ځکه چې د هغې
خاوند مجبوری او خپله بیماری
دواړه لیدل، هغې چې به په خپل
هډوکی هډوکی وجود، سپین سر او زیړ
زاویل مخ منظر واچولو او بیا به
ئې د هغهٔ غټ کټ وجود، سور سپین مخ
او تورې ږیرې ته وکتل نو د ځان
سره به ملامته غوندې شوه.

خدایه! ما واخلې چې په مونږ ټولو اسانه شی"

اخر به غریبه ځان ته په ښېړو شوه، د رغېدو او رغېدو طمه ئې نهٔ وه خو چې د ګل ځانګې ګل ګل وجود او ځانګه ځوانی به ئې لیده نو زړهٔ به ئې خور خور شو، د هغې خپل کور ته په حیا او په عزت رخصتېدل د شمشادې اخری ارمان وو.

ملائی صېب ډک کنډول تر اخری تش کړو، حلق ئې تر شو ولې تنده ئې ماته نهٔ شوه، باران هغسې په مکیز مکیز وریدو، د دارو څښلو نه پس هم د هغې د ټوخی اواز لکه د جرندې د اواز په تسلسل سره راتللو، هغهٔ په ولاړه ستومانی وویسته، خوب ئې نن د سترګو نه داسې تښتېدلے وو لکه چې کله به ئې د مزغو نه اوږدهٔ سورتونه په مانځه کښې وتښتېدل، د ټوخی اواز د کوټې دننه نور هم تېز شو.

"د دارو نه هم نشه لاړه"

هغهٔ رو غوندې د کوټې ور لرې کړو او د کوټې دننه د بجلی بټن ئې ووهله، د شېشېتو واټو د بلف زیړ بخنه او رنځوره رڼا په کوټه کښې خوره شوه، د کوټې په ګُټ کښې شمشاده په دوو برستنو کښې پټه په

خپل کټ کښې پرته وه، د ټوخی اواز
ئې په دوه برېستنو کښې هم نهٔ
ایسارېدو، خو د هغهٔ نظر په شمشادې
نه بلکې په ګل ځانګه کښې خښ وو،
خپله برېستن ئې په خور اچولې وه او
خپله د یخنۍ نه بې نیازه په تشه
بستره کښې خوره وره پرته وه،
لوپټه ئې د کټ نه ښکته زنګېده، د
وجود ځانګه ئې د داسې ځوانۍ په
کور راماته وه چې هر ګل ئې په خپل
ډنډ برڅېره ښکارېدو، د هغهٔ ساه
لنډه ګنډه شوه او په یخ ژمی کښې
ئې په تندی خوله راغله، د لاحول
ټکی ئې د زړهٔ نه پورته شو خو حلق
ئې وچ وو نو تږ خُلې رانهٔ غلو، په
نیم کښو ور کښې ئې پښې من من شوې،
د سترګو کاتی ئې په دیتو منظر کښې
داسې خښ وو لکه چې غرپیما د غرهٔ
سر ته میږی او په غرهٔ باندې
مېخونه وهی، ناڅاپه د ټوخی اواز
تېز شو، هغهٔ چې د سترګو زاویه
بدله کړه، نو شمشادې د برېستنې نه
سر راویستے وو او هغهٔ ته ئې په
خپلو چیخنو سترګو داسې کتل لکه چې
د هغهٔ د لېوالې سترګو د غلا نه ښه
خبر وی، هغهٔ د سرو دارو بوتل
راواخستو او د شمشادې په خُلهٔ کښې
ئې ټول واړولو، شمشادې هغهٔ ته په

خپلو نوژنو سترګو وکتل او اړخ ئې داسې واړولو لکه چې بیا به ئې واپس راوا نۀ ړوی، د هغې څُلې ته اوس هم ټوخی راتلل، خو هغې به خپله سینه کښې ایسارول، د هغۀ چې تسلی وشوه چې په هغه خوب ورغلې ده، نو خپلې تنده غرې سترګې ئې بیا د ګل څانګې په لور کړې کړې، هغه له هر څۀ بې خبره د ځوانی په خوب اوده پرته وه، د ملائی صېب ټول وجود لکه د چایجوش ویشېدو، ناڅاپه د باران شېبه تېزه شوه او ورسره د هغۀ په مزغو کښې روان کشمکش هم تېز شو، اسمان ګرځېدو او د هغۀ په مزغو کښې هم لکه چې ګنې پیشوګانې په یو ځائے غرېدې، هغۀ یو دم د کوټې ورته زنځیر واچولو او باتی ئې مړه کړه، د اسمان نه اوبۀ په کاسو راتلې، اسمان بې واره پرقېدو او ګړزېدو او بیا ناګهانه، خدائې خبر چې د څومره زور او طاقت وریځې په خپلو کښې وجنګېدې، چې یو زړۀ چاودونکے ګړز شو او چرته نزدې تندر پرېوتو، لحظه پس هر خوا یو بوږنوونکی شان خاموشي خوره شوه، باران پښه ونیوله، څاڅکی راتلل خو د بې وسه اوښکو په شان د زمکې

غېږې ته په ورو ورو ستړی ستړی
راتلل.

د سحر د مانځه نه وروستو چې د
جومات په لاوډ سپیکر د ملائی صېب د
ټبر د جنازې اعلان کېدو، نو باران
ودرېدلے وو او نمر څړیکه وهلې وه،
خو د تېر موسم تروږمۍ د نمر په
سپینه څهر باندې خوره ښکارېده.

لطیف شاه شاهد

# فېصله

د تېر ژمی او تازه سپرلی په بريد ولاړې د سحر خېژه نمر کچه پلوشې د سيشن جج صېب د زړې بنګلې په دېوالونو او دريچو لا نوي نوي لګېدې، د اتوار ورځ وه، د بنګلې ټول مکين د چوټی په احساس سودمن خوبولی پراته وو، ولې د يوې کمرې دريچه پرانستې وه او کمره د ټيوب لائټ په رڼا کښې ځلېده، دا د جج صېب کمره وه، هغه په خپله ارام کرسی کښې داسې نېغ ناست وو لکه چې په خپل عدالت کښې د انصاف په کرسی ناست وی، د هغۀ په جولی کښې تازه اخبار پروت وو او په ګوتو کښې ئې بل سګرټ وو، سترګې ئې د سکروټو په شان سرې وې، په مخ ئې داسې کېفيت وو لکه چې د وجود په زمکه ئې زلزه تېره شوې وی، په مېز د "ډن هِل" ډبے خالی پروت وو او په "ايش ټرے" کښې د مړو سګرټو امبار لګېدلے وو.

هغه يو ډېر ښۀ جج يادېدو، د هغۀ هره فېصله به د ذاتی احساساتو او جذباتو نه عاری وه، هغه چرې هم په خپله فېصله پښېمانه شوے نۀ وو، ولې دا نن چې د خپل وجود په عدالت

کښې کومه فېصله هغهٔ ته پېښه وه،
اسانه نهٔ وه، هغهٔ ته داسې
محسوسېده لکه چې څوک په خپلو تېرو
نوکونو د هغهٔ په روح نوکارې
راکاږی، هغهٔ ته داسې ښکارېده لکه
چې وخت هغه د سېشن د عدالت په
کرسۍ نه بلکې د خپل ضمیر د عدالت
په کرسۍ کښېنولے وی او د انصاف
تله ئې په لاسو کښې ورکړې وی، هغهٔ
ته یوه داسې مقدمه ورپېښه وه چې د
هغې دواړه مدعیان د یونې او د
مینې په رشته تړلی وو او د جج صېب
هم د دواړو سره دا دواړه رشتې وې،
هم د وینې، هم د مینې، هغهٔ د
لوګېدلی سګرټ نه یو اوږد کش
راښکلو او هغه ئې په اېش ټرے کښې
داسې ومړلو لکه چې زړهٔ مړی، په
جولۍ کښې پروت اخبار ئې یو ځلې
بیا راپورته کړو او خپلې سترې
سترګې ئې په وړومبۍ پاڼه لګېدلی
په دوو تصویرونو خښې کړې، دواړه
تصویرونه داسې خوا په خوا لګېدلی
وو لکه چې په یو فریم کښې لګېدلی
وی، د زړهٔ د کومې نه ئې د درد
څړیکه پورته شوه، هغهٔ ته داسې
محسوس شوه لکه چې د هغهٔ دواړه
یاران نن موده پس د هغهٔ د هاسټل
کمرې ته راغلی وی، هغه درې واړه د

ځماله لطیف شاهد

کالج ملګری وو، د درې واړو
دوستانه په ټول کالج کښې مشهوره
وه، ناسته پاسته یو ځائې، خوراک
څښاک یو ځائې، سېل صفا یو ځائې، د
امتحان تیارے یو ځائې. غرض دا چې
یو ځان درې قالبه وو، مجاهد غاو د
شېر بهادر خو رو میېټان وو خو د
ځلان زیات وخت به هم د هغو په کمره
کښې تېرېدو، مجاهد د قبائلی سیمې
د وزیرستان اوسېدونکے وو او د شته
من کور سره ئې تعلق لرلو، شېر
بهادر او ځلان د سمې اوسېدونکی وو
او د ملازمت پېشه کورنو سره ئې
تعلق وو، دا هغه زمانه وه چې د
وطن څهره د مارشل لا په ګورو تیرو
کښې پټه وه او په سیمه د هاتیانو
او سانډګانو لوې جنګ روان وو، د
سانډګانو د مخ نوی دپاره هاتیانو
خپلې ټولې وسلې او وسیلې د پښتنو
په سیمه غورزولې وې، د عالمی
استعمار اتلانو یو بل ته بدې وهلې
وې، وسله د استعمار وه خو اوږه د
پښتنو وه، دواړه اړخو ته د پښتنو
نسل کشی کېده، د جهاد چغه پورته
شوې وه، د ټولې دنیا او په خاصه
توګه د اسلامی نړی نه د جهاد په
نوم، بې نومه خلق ډلې ډلې
پښتونخوا ته راروان وو، د هر سړی

پردے تپوپک په غاړه ووه، د قبلې په لور روان ووه، د مجاهد د کورنی خلق هم د سپين هاتی په سورلی مست ووه، د هغهٔ مشران ورونړه به کله کله هغهٔ پسې هاستل ته راتلل، په نوی نوی لېنډ کروزرو کښې د درنو وسلو په سېوری کښې چې به د هغهٔ ورونړه په هاستل رانړه وتو نو د ځلان خاطر به دروند شو، د شان شوکت او د وسلې دا بې مهاره اظهار د هغهٔ د مزاج نه خلاف ووه، کله به ئې په تپوقه مجاهد ته څهٔ ووې هم، خو مجاهد په دې معامله کښې ډېر حساس ووه، هغهٔ به د جهاد په حقله د ځلان په شک شبه بد ګڼل، خو ځلان سره د خپلو شکونو خپل دليلونه ووه، هغهٔ به وې چې دا لوې لوې بهرنی ګاډی، درنې وسلې، د مغرب دا بې دريغه امدادونه او د بهر نه راغلی دا مالداره مېلمانهٔ، دا ټول د څهٔ دپاره دی، اخر دا جنګ د څهٔ دے، دا سپين پوستی او غټ خېټمی په رښتيا په اسلام دومره مئين دی چې د دې له غمه خوب نهٔ ورځی، د جنګ په دې مېچنه کښې دواړه طرف ته پښتانهٔ مسلمانان دل کېږی، هغه به اکثر مجاهد سره جذباتی شو.

"نه وروره! نه، داسې نۀ ده، لږې د شعور سترګې وغړوه، دا جهاد نۀ دے، فساد دے، دا بلا به يوه ورځ مونږه ټول وخوری، زمونږ نسلونه به وخوری، د دې بلا نه ځان ساتل پکار دی"

په جواب کښې به مجاهد هم تود تريخ شو، ماحول به تاوژن شو، خو شېر بهادر به اکثر ترمينځه راغلو او خبره به ئې سېره کړه.

شېر بهادر په سياست خو ډېر نۀ پوهېدو، خو په جهاد باندې د ځلان تنقيد او ټکونه د هغۀ هم خوښ نۀ وو، خو هغه نرم مزاجه او خوش طبيعته وو، نو د ځلان سره به ئې اختلاف نۀ کولو، په دغه خوږو ترخو کښې د کالج زمانه لکه د خوب غوندې تېره شوه، د وخت چپو دا درې واړه ياران د يوه بله داسې جدا کړل چې په کلونو کلونو د يوه بله نۀ خبرېدو، شېر بهادر په ارمی کښې کمېشن واخستو او کاکول ته لاړو، مجاهد چې د انګرېزۍ په پرچه کښې فېل شو نو د تعليم نه ئې داسې زړۀ وتکېدو چې واپس کلی ته لاړو او باقاعده په جهادی هلو ځلو کښې بوخت شو او په رښتيا مجاهد شو، ځلان د تعليم سلسله جاری وساتله او

وکالت ئې وکړو، څهٔ موده ئې وکالت
وکړو او وروستو ئې د کمېشن امتحان
پاس کړو او جج ولګېدو. په درې
واړو ملګرو کښې څهٔ موده خو ماته
ګډه رابطه وه، ولې بيا د ژوند په
مېلمه کښې د يوه بله بيخي ورک شو،
وخت داسې په تېز رفتار زغل کوی چې
انسان ورته دم بخود شی، شل کاله د
سترګو په رپ کښې تېر شو، واړهٔ
ځوانان شو، ځوانان زاړهٔ شو او
زاړهٔ مړهٔ شو، د وخت مېچنه تاؤ شوه
او د اتلانو جنګ هم فېصله شو،
تورسرې کُنډې شوې، ماشومان
يتيمانان شول او زمکه د پښتنو په
وينه خړوب شوه، خو د استعمار تنده
لا ماته نهٔ وه، د اقتدار جنګ په يو
نوی شکل کښې د پښتنو ځه مری خپلې
پنجې خښې کړې.
د وخت پايه لږه نوره هم
وچورلېده، يولسم ستمبر راغلو،
دنيا وجړقېده، چيندخ په هاتی چک
لګولے وو، هاتی وغرمبېدهٔ، په
چيندخانو چپاوونه شورو شوه، څوک
ئې د پښو لاندې کړو او چا يو خوا
بل خوا منډې کړې چې سر په سېوری
کړی، د اور او وينې نوې لوبه شورو
شوه، تيرې رڼا شوې او رڼاګانې
تيرې، پاليسی بدله شوه، د سترګو

زاویې بدلې شوې، د ټوپکو خُلې
راواوړېدې، ولې د سپېږو خو سپېږه
برخه وی، په نوي لوبه کښې د پښتنو
نوے قتلام شورو شو، په وزیرستان
کښې چې فوځی اپریشن پېل شو نو د
ځلان په خوب او خیال کښې هم نهٔ وه
چې دا اپریشن به دري زاړهٔ ملګری د
وخت په برید یو بل ته بیا مخامخ
ودروی، خو نن سحر چې هغه اخبار
پرانستو نو په وړومبی پاڼه لګېدلی
یو بیان او اوږه په اوږه لګېدلی
دوه تصویرونو د هغهٔ د وجود
بنیادونه وچړقول، دواړه تصویرونه
نوی وو خو هغهٔ دواړه مخونه په
وړومبی نظر وپېژندل، د شېر بهادر
په موسکو شونډو هم هغه نرمه موسکا
وه چې په ټول مخ بڼه ئې خوره
شکاریده، د مجاهد په غټو سترګو
کښې هم هغه زوړ عزم وو چې د هغهٔ د
غرسنی وجود خاصه وه، د یو تصویر
لاندې سرخی ځلېدله چې کرنل شېر
بهادر خان د غېر ملکی ترهه ګرو
سره په مقابله کښې شهید شو، د بل
تصویر لاندې لکه چې په سره وینه
لیکلی شوی وو چې زوړ جهادی کماندر
مجاهد وزیر سره د دري غېر ملکی
دهشتګردو په دې پېښه کښې هلاک شو،
هغهٔ په ډکو سترګو د اخبار دواړه

سرخیانې تر هغې وخته لوستې چې تر
کومې ئې نظر ته د هغې توری تت شوی
نهٔ وو، اخبار خو د مړ او د شهید
فېصله ښه په اسانه کړې وه ولې هغهٔ
ته دا فېصله کول اسانه نهٔ وو، چې
په دواړو کښې شهید څوک دے او هلاک
څوک، د پردو ټوپکونو نه وتې ګولې
چې د دواړو یارانو په فراخو سینو
ننوتې، نو شاید چې د دواړو په
سترګو کښې هم دا سوال ساکت پاتې
شوے وی چې شهید زهٔ شوم او کهٔ تهٔ.
د جج صېب په مزغو کښې روان د
ماضی د فلم ریل ختم شو، تمام
عکسونه ودرېدل، هغهٔ په دمه دمه
خپلې نمژنې سترګې وغړولې، د تېز
نمر په تاوژنو پلوشو ټوله کمره
رڼېده، هغهٔ په جولۍ کښې پروت
اخبار ډېر په عقیدت پورته کړو،
دواړه تصویرونه ورته په سترګو کښې
موسکی غوندې شو، هغه په اخبار ټیټ
شو او دواړه تصویرونه ئې په وچو
شونډو ښکل کړل، بې اختیاره ئې د
ډکو سترګو نه دوه ترمې اوښکې تلې
شوې او د تصویرونو په مخونو
داسې وځلېدې لکه چې د دوو شهیدانو
په قبرونو چا ډیوې بلې کړې.

# بنګړیواله

هغې ته دا خو یاد نۀ وو چې هغه د څو کالو وه چې مور په وړومبی ځلې د ځان سره په پردو کوڅو کښې ګرځولې وه، ولې دا ورته ښۀ یاد وو چې کله به ئې مور په پردی غولې کښې پرلت وغزولو او د خپلې ټوکرې نه به ئې سرۀ او شنۀ رنګ په رنګ بنګړی راوسپړدل نو د غنچې زړۀ به هم غوښتل چې لکه د نورو جینکو د دې مور دې ته هم یو څو بنګړی په لاس کړی، ماشومه وه په دې نۀ پوهېده چې د بنګړی والو خپلې لېچې ټول عمر تشې وی، چې لږه لویه شوه نو دې هم د مور سره په ګلیو کوڅو کښې د "بنګړی واخلی" چغه پورته کړه، د مور د ناڅاپی مرګ نه پس د مور هغه د بنګړو ټوکری د دې په برخه ورسېده او واپس هغه یوازې په کورونو او کوڅو ګرځېده.

د هغې نه مشرانې دوه خویندې نورې وې، پلار ئې هم ژوندے وو، خو په مړ حساب وو، ولې چې نۀ خو ئې د ښځې په ژوند څۀ کار کسب کولو او نۀ د هغې د مرګ نه وروستو ئې د

لونړو نه حیا راغله، ټوله ورځ به ئې د خپل تمبو نه بهر سېورې ته یا پېتاوې ته کټ اچولے وو او چیلم به ئې څښلو، سحر چې به ئې لونړو د بنګړو ټوکرې په سر کړې نو په کنځلو به ئې رخصتولې او ماښام چې به ستړې ستومانه واپس راغلې نو د یوې یوې لور نه به ئې بیل بیل د ټولې ورځې وټک ترلاسه کړو او په انعام کښې به ئې ورته یو څو غټې غټې کنځلې هم وکړې او په تېره تېره د غنچې څېره خو به پرې ډېره بده لګېده، د غنچې وټک به له بده مرغه همېشه د نورو خوېندو نه کم وو، خوېندو به اکثر د پلار د قهر نه په دې بچ کوله چې خېر دے دا لا وړه ده، ولې په دې به ئې هم پلار ته قارېدو چې د څوارلسو کالو خو شوه، نوره به لا څومره لوئېږي.
غنچه به د پلار د سرو چیغنو سترګو نه ډېره وېرېده، ولې هغې ته د دې خبرې هېڅ چل نۀ ورتللو چې هره ورځ د خپلې ټوکرې ټول بنګړې څنګه خرڅ کړې، هغې څو ځله د مشرانو خوېندو نه هم تپوس کړے وو چې د هغو ټول بنګړې څۀ رنګې خرڅېږي، ولې خوېندو هم ورته سېوا د دې نه هېڅ ونۀ وې ي تۀ د خرڅون په چل نۀ

پوهېږي، ولې د خرڅون چل ئې ورته ونهٔ شود.

د هاړ د میاشتې یوه تکنه غرمه وه، د نمر تاؤ لکه دغوش په بدن لګېدو، تاوده بادونه په مخونو لکه د څپېړو راتلله، بازارونه خوشې پراتهٔ وو، په کوڅو کښې چپه چپیا وه، میاندو خپل ماشومان د وخته کورونو ته ننایستی وو، په دې خاموشۍ کښې د هغې د "بنګړی واخلی" تېرهٔ اوازه د چا کله تر غوږو کېدهٔ ځکه چې ټول خلق په کوټو کښې دننه خپلو پکو او ائرکنډېشنونو ته غزېدلی وو، غنچه ستړې هم وه او جل وهلې هم، زړهٔ کښې ئې وې چې کهٔ چا اواز واورېدو او خپل ور ئې لرې کړو نو کهٔ بنګړی اخلی کهٔ نه، اوبهٔ خو به راکړی، هغې خپل وچ حلق په توکانو لوند کړو او د "بنګړی واخلی" تازه چغې ته ئې ځُلهٔ جوړوله چې ناڅاپه د مخامخ لوې دروازې زنځیر شکته شو، ور لرې شو او یو سړی ترې خپل سر رابهر کړو، په مخ ئې وړه وړه ږیره وه او په سر ئې سپینه ټوپی وه، داسې ښکارېده چې لکه د وخت نه وړاندې د ماسپښین مونځ ته راوتې وی، اول ئې غنچې ته وکتل، بیا ئې په ویجاړه کوڅه کښې

تر لري لري وکتل او ورو غوندي ئي هغې ته اواز وکړو "دننه راشه، بی بی دي غواړی" هغې یو ځلي دوه ورانـدي هم د دي کور په بی بی بنګړی خرخ کړی وو، ډېره شکلي او ښه بی بی وه، د هغې ژبه د تندي نه بیخی وچه وه، هغې خپله ټوکری د سر نه ترخ ته راکوزه کړه او په دروازه ننه وته، هغې د دالان په یخ فرش پرلت وغزولو او د بنګړو ټوکری ئي پرانسته، سړی ورته ووې چې بی بی د کوټې دننه ده، هلته ورشه، غنچه چې ټوکری په ترخ نیولې کوټې ته ننه وته نو سړې هم ورپسې کوټې ته ننه وتو او ور ئي بند کړو، یوه لحظه پس د کوټې نه داسې اواز راغلو لکه چې د بنګړو ډکه ټوکری په زمکه راګوزار شی او ټول بنګړی مات شی.

په دغه ورځ ماښام چې غنچه د وخت نه وړاندي په ستړی وجود او درنو هډوکو خپل کټ ته تله نو سوچ ئي کولو چې نن به مي پلار ښهٔ خوشحال وی، چې غنچي هم د بنګړو خرڅولو چل زده کړو او په وړومبی ځلي د تشي ټوکری سره واپس راغله.

# مجرم

دا رښتیا دی چې زۀ د هغۀ مجرم یم، د هغې بې ګناه قاتل یم، ما په رڼا ورځ د هغۀ په وینه خپله وحشی تنده سړه کړې ده، شاید چې دغه وخت ما خپل حواس بائیللی وو یا زۀ په خود نۀ وم، د غصې او کرکې یوه تېزه چپه وه چې زۀ ئې د خپل ځان سره د پښېمانی په دریاب لاهو کړم، زما هغه لاسونه چې چړې په توقه ئې هم څوک نۀ وو ازار کړی، د یو بې ګناه په وینه رنګ شو، زما د تیس بور هغه تماچه د مودو راسې د صفائې په غرض هم زما لاسو ته نۀ راتله، خدائې خبر چې په دغه ورځ څنګه زما بې واکه لاسو ته راغله او ما د تماچې تول چاجر د هغۀ په سینه تش کړو، هغه به هم حېران وو، د هغۀ په وړو وړو سترګو کښې به هم دا سوال لکه د تصویر ساکت پاتې شوے وی چې اخر ولې؟ زما او د هغۀ څۀ بدی بدرنګی هم نۀ وه نو بیا ولې، نۀ توره ګناه او نۀ سپینه ګناه او ناڅاپه ما هغه په خپل کور کښې شپږ دزه وویشتو، په ما لعنت ووائې، ما ملامته کړئ، خو د سزا نه

مخکښې ماته د خپلې صفايي يوه موقع ضرور راکړی، ځکه چې د دنيا هر عدالت د لوي نه لوي مجرم ته د صفايي يوه موقع ضرور ورکوی، شايد چې د دې سره زما زړهٔ هم سپک شی او ضمير هم لږ په قلار شی.

خبره د دې نه شوروشوه چې زهٔ د وادهٔ نه پوره لس کاله پس د مور او پلار نه بيل شوم، د بيلېدو نه زما مطلب دادے چې ما ځان ته بيل کور واخستو او په کډه ورته لاړم، د دې نه وړاندې د خپل ژوند قيمتی لس کاله ما د مور پلار او ورونو خوېندو سره د شريکې په کور تېر کړی وو، د ژوند رنګينې ورځې شپې مې د خپلې ښځې نسرين سره د کور په يوه وړه غوندې کوټه کښې په صبر شکر تېرې کړې وې او د شريکې د کور هغه ټولې سختې ستونزې مې په فراخه تندی برداشت کړې وې کومې چې په جوائنټ فيملی سسټم کښې هر وادهٔ کړی ته ورپېښېږی، ولې اوس د درې بچو سره د شريکې په کور کښې استوګنه ګرانه وه، د مور پلار مې اوس هم په بيلېدو واره نهٔ راتلل، خو راپسې ورور مې د وادهٔ په لټه ولاړ وو، په کور کښې بله کوټه نهٔ وه، نو په نهٔ زړهٔ راته مور پلار د

بیلېدو اجازت راکړو، په سرکاری
نوکری کښې خپل کور جوړول د خو
لېونی خوب دے او زما سترګو دا خوب
چرې هم نۀ وو لیدلے نو ځکه مې د
خپل دفتر سره نزدې یو وړوکے شان د
دوو کوټو کور په کرایه ونیوو او
کډه مې ورته راوړه. بیل کور د هرې
ښځې ارمان وی، نو فطری خبره ده چې
نسرین ډیره خوشحاله وه، ما هم
وړمبی ځلې د ازادی په فضا کښې ساه
واخسته، دوه درې ورځې خو د کور په
صفائې او ښائست کښې تېرې شوې، چې
لږ ساه صورت شو نو د خپلو خپلوانو
مبارکی سلامتی شورو شوه، موسم د
ګرمی وو، د هاړ روغه میاشت په سر
ولاړه وه، د واورې او شربت نه بغېر
ګوزاره نۀ کېده، نسرین هم په روڼ
تندی هر چا ته هرکلے وئیلو، هغه
خوېندې، مېندې او ترېندې خو خېر
دے خو چې عزیزانو هم په دې سوراړا
کښې پښې رااوړدې کړې نو لکه د هاړ
میاشت چې د وخت نه وړاندې انګڼ ته
راکوزه شوه، د انګڼ نوم خو مې
واخستو خو زما د ماچس د ډبی هومره
کور کښې د انګڼ په نوم بس د یو
دوه کټونو ځائې وو، چې دویم کټ به
مو پکښې واچولو نو د کور نه د
وتلو لار به ورکه شوه، په داسې لنډ

تنګ ځائې کښې چې روزانه د لس اتو
مېلمنو مېلمستيا ئې په سر شوه نو
د ښځې مې هم لاسونه پښې وپړسېدل،
خو د پېښې نه تېښته نۀ وی، هر سحر
به يو تور مخے بدرنګ کارغۀ خدائې
خبر له کومې راوالوتۀ او د کوټې
په سر به ئې چغې وهل شورو کړل،
يوه لحظه پس به د سپينو نورو برقو
قافلې راتلۀ شورو شوې، ماه جبينې
ترور به لا برقه کوزه کړې نۀ وه چې
ښاپېرۍ چاچې به د خپلې کشرې
اينګور او دوه نمسو سره په ور
راننه وته، ترور او چاچې به په تا
ويلی ما ويلی کښې لګيا شوې او
نسرين خوارې به د کچن مخه واخسته.
د ښاپېرۍ چاچې دواړه نمسو چې به
زما د زوې بېټ او بال ؤليدو نو هم
په دالان کښې به ئې کرکټ شورو کړو،
خو ما چې به د ماشومانو په سترګو
کښې د شاهد افريدی ارادې ؤليدې نو
په چل ول به مې بهر کوڅې ته
وويستل. نسرين عاجزه به زما د
عزيزانو نه لا وزګاره نۀ وه چې د
هغې د مشرې خور کشره ايندرور به
سره د سړی راورسېده، رشته داری
وه، نو ما به هم مخ ته لپه واچوله
او بېټک ته به ووتم، شربتونه او
چايانې به دې دوران کښې مستقل

چلېدې، د سرکار سره دي خدائې ښځه
شی چې لوډ شیډنګ کوی، د بجلئ د
تلو سره به ماه جبینې ترور ته هم
کټوی ځمځی رایاده شوه او ښاپېرئ
چاچی ته به هم رایاد شو چې هغه خو
د اینګور سره اسپتال ته روانه وه،
دا مبارکی خو ورته په لاره کښې
رایاده شوه، له بده مرغه زما د
کور سره اسپتال ډېر لنډ وو او څوک
چې به ډاکټر ته راغلو او ډاکټر به
لا نۀ وو راغلے نو زمونږه کور به
ئې د ټرانزټ لاونج په حیث
استعمالولو، نو ماه جبینه ترور او
ښاپېرئ چاچی خو به رخصت شوي خو د
نسرین د مشرې خور کشره ایندرور خو
به د لرې نه راغلې وه او بیا
خاوند به هم ورسره وو نو د غرمې
روټئ خوړل خو لازمی وو، زما یوه
پښه به په بازار کښې وه او یوه په
کور کښې، په تیاره روټئ کښې به د
کلی نه شېرین کاکا هم راپېښه
وکړه، راغلے خو به هغه هم د دوکان
سودا ته وو، خو چې زما د
بیلېدو نه به خبر شو نو مبارکی هم
ضروری وه. د نسرین مېلمانۀ خو به
د روټئ خوړلو نه پس رخصت شو، خو
شېرین کاکا په زړو هډوکو په سره
غرمه کښې کلی ته نۀ شو تلے، نو ښځه

د مزي به ئي په بېټک کښې زما په کټ کښې یخ روم کولر ته پښې وغړولې او تر مازیګره به ئي د جهان خوبونه ستړی کړل، نسرین غریبه به اکثر د بچو سره په دالان کښې زوړ پکی ته پرته وه او له ځانه به ئي مچانه شړل. د مازیګر نه پس به اکثر د چم ګاونډ په خېر راغلی ته راحضور شو، نسرین به په یوه پښه د کوټې نه کچن ته او د کچن نه کوټې ته منډې وهلې، په ماښام کښې به مې اکثر کشر ورور خپل سم دم کټ پوزے پرېښودو او مونږ کره په شپې ته راغلو، مور به مې خلقو ته ډېر په ویاړ وئیل چې هغۀ ته د ورېرو، ورېرونو نه بغېر خوب نۀ ورځی، ماسخوتن ناوخته چې به ښځه خاوند په ستړی وجودونو او درنو هډوکو خپلو کټونو ته پرېوتو نو دومره توان به مو نۀ لرلو چې په ځان د ذهنی او جسمانی دې تشدد څه مخ نیوے وکړو، دوه خبرې به مو لا نۀ وې کړې چې سترګې به مو ورغلې او بیا به سحر شو، اکثر به مونږ سترګې د هم هغه بدرنګ کارغۀ په اواز وغړېدې او د نوی ورځې نوی بیګار ته به مو ملا وتړله، د زړې ډرامې رهرسل به بیا شورو شو،

کردارونه به هم هغه وو، شکلونه به
بدل شو، د ماه جبینې ترور په ځائې
به ګل اندامه ترور وه، چې په یوه
پښه پولیو وهلے کړوسے به هم ورسره
وو. د ښاپېرۍ چاچې په ځائې به
ماشیره ببو د کشرې اینګور سره وه
چې د ناوېتوب نکریزې ئې هم د لاسو
نه تللې نۀ وې، د نسرین مشرې خور د
کشرې اینډرور په ځائې به د هغې د
کشرې خور مشره ورندار وه او د کلی
د شېرین کاکا په ځائې به انځر ګل
ماما سره د مامی راغلے وو، داسې
ښکاریده چې په دې اوړی کښې زما
ټولو خپل خپلوانو قسم کړے دے چې
بل څۀ کار به نۀ کوی صرف زما د
کور مبارکی به کوی، چا چې مبارکی
کړې وه، نو د خېر خبر په نامه هم
تلی راغلی وو او خېر خبر اختسل ئې
څۀ وو، د هر چا په ګېډه کښې یوه
خبره وه چې ځنګه بیل شوې، په رضا،
صلا او کۀ په تاو تریخوالی، د هرې
بوډۍ دا کوشش وو چې د نسرین د خُلې
نه څۀ داسې خبره وباسی چې دوه
څلور ورسره کړی او د مور غوږونو
ته مې اورسی، اخر لس کاله یو ځائې
پاتې شوې وو، د هرې ښځې په کور
کښې څۀ بدی بدرنګی راغلی وی نو د
هرې یوې غوږونه زما د ښځې د خُلې

نه زما د مور خور په حقله د څۀ ګيلې مانې يا سپکې ورکې اوريدو ته لېواله ووه، خو افرين دې په نسرين وى چې په خپله خُلۀ ئې کلک مهر وهلے ووه، داسې نۀ وه چې ګنې د هغې په زړۀ څۀ نۀ وو او نۀ دا چې ګنې هغه د نورو شځو نه څۀ ناوياته وه، خبره دا وه چې خواشې ته د ټينګې نۀ وه، زما دپاره د اطمينان خبره دا وه چې دا ټولې شېطانانې، زړې او ځوانې مې له کوره نامراده تلې، هغه داسې چې کۀ شځو ته دې چائې شربت ورنۀ کړو نو خېر دے خو چې د غوږ مجلس دې ورسره ونۀ کړو نو نيمګړې نيمه خوا دې پرېشودې.

زما زوږ فريج په شلمه ورځ د نورې مېلمستيا نه انکار وکړو او کمپريسر ئې ووهلو، د نوى کمپريسر ګنجائش راسره نۀ ووه، نو يوه بله ډيوټۍ مې دا تر غاړې شوه چې په ورځ کښې درې ځله مې د بازار نه واوره راوړه، په شلو ورځو کښې مې د روح افزا دولس بوتلې راوړې وې او داسې شکاريده چې د مياشتې تر اخره به مې لس اتۀ نورې هم وهلې وى، په دويمه ورځ سېر غوښه کور ته راتله او کله به پکښې چرګ چرګوړے هم راغلو، دوه زره روپۍ

کرایه مې لا په پرته وه، داسې
شکارېده لکه چې د نوټونو نه مې
وزرې لګېدلی وی، د بجټ قافیه مې
تنګه شوې وه، په دې کښې د
ماشومانو چوټیانې شوې، خدائې خبر
چې دا سرکار ماشومانو ته دومره
اوږدې چوټیانې ولې ورکوی، درې
ماشومان راته خپل په کور شو او
مشرې خور راکړه خپل دوه ماشومان
هم راولېږل. کشره خور خو مې لا
نیازبینه وه، نو خپل درې واړه
ماشومان ئې ما کره راولېږل او
خپله د خاوند سره کلام ته لاړه،
لکه چې بیا د سره هنی مون ته ئې
زړۀ شوے وو، ورسره ئې پېغام هم
راولېږلو چې ماشومان وائې چې مونږ
به ټولې چوټیانې د ماما په نوی
کور تېروو، اوس خو را کره سمه
مېله جوړه شوه، د دوو کمرو په کور
کښې لس اتۀ ماشومان او بې دریغه
مېلمانۀ لا بیل، ماشومان هم داسې
چې شېطان ترې امان غواړی، په
دوېمه ورځ ئې سینګار مېز شیشه
ټوټې ټوټې کړه او په څلورمه ورځ
ئې د ډنډې د پکې نه خلاص کړو، په
غټو غټو مو کتل خو هېڅ چاره مو نۀ
وه، نسرین چې نوی کور ته لېواله
وه پښېمانه پښېمانه لګېده، زما هم

د بیل کور ارمان کوز شوے وو، نو
کوزه کوزه مې کتل.
چې میاشت پوره شوه او د بجلۍ
بل راغلو نو لکه چې په سر مې تندر
راپرېوتو، ورپسې سم د ګېس بل
راغلو نو لکه چې په تندر پسې شړق
راپرېوزی، په دوارو لاسو مې خپل سر
ونیوو، تنخواه مې واخسته او
تنخواه مې دوره کړه، میاشت لا په
سر پرته وه او جېب مې لکه د اورو
د پېټۍ خالی وو، غم دپاسه غم دا
چې غټه کټه نسرین چې په یوه پښه
به په ټول کور کښې ګرځېده، د برمه
پرېوته، غریبې اخر ملا ونیوه او په
کټ پرېوته، په دغه شپه هغې خوارې
ټوله شپه د ملا په دردونو تېره کړې
وه، په سحر کښې ئې لرې سترګې
ورغلې وې چې ناڅاپه د هغه تور مخي
کارغۀ په بدرنګ اواز ئې سترګې
وغړولې، زۀ د وړاندې نه وېښ وم،
هغې په مړاوی اواز د ځان سره ووې
چې کارغۀ بیا چغې وهی نن جوړې بیا
ګڼ مېلمانۀ راځی، ماټوله شپه د
اوړو، غوړو او چینو په حساب کتاب
کښې شوګېر کړې وه، د هغې د خبرې
سره سم مې مازغۀ لکه په دز
والوتو، دغه وخت کارغۀ بیا په چغو
سر شو، ماته داسې ښکارېده لکه چې

په بلې ناست کارغهٔ لګیا دے خلقو
ته ما کره د راتلو بلنه ورکوی.
بیا زهٔ نهٔ یم پوئې چې تماچه
مې څنګه لاس ته راغله خو په بلې
ناست هغه تورمخی بدرنګ ته مې
ونیوه او هله مې پرېښوه چې پوره
جاجړ مې پرې ووهلو، مړ کارغهٔ شکته
په زمکه پروت وو، هر طرف ته یوه
بوږنوونکې خاموشي خوره وه، په
ادیره کور کښې د نسرین غریو
نیولې سلګۍ د ژوندانهٔ یوازې نخښه
شکارېده، زهٔ د خپل احساس په توده
زمکه، تیټ سترګے، سرکوزے ولاړ وم،
زما په سپږمو د سوی بارودو کرکژن
بوئې وو او ماته داسې محسوسېده چې
ملامت خېژه خاموشي زما تر هډوکو
زما د وجود ته کوزه شوې ده او زما
ټول وجود په یوه لویه هدیره کښې
بدل شوے دے او په دې لویه ادیره
کښې صرق یو قبر دے او دا قبر د
هغهٔ دے.

# درشل

د وروستي ژمي يخه، توره او نوژنه شپه وه، د کچه کوټې دېوالونه داسې يخ وو لکه چې واوره پرې ورېدلې وي، کشمالې په تورتم کښې دېوال ته ډډه وهلې وه او لکه د بوټ غلې ولاړه وه، زړۀ ئې داسې بې واره درزېدو لکه چې په ګوګل کښې نه په غوړونو کښې درزېږي، مخامخ په دوو کټونو کښې ئې مور او پلار غرق اودۀ وو، پلار ئې د ټولې ورځې د مزدورۍ نه پس کټ ته ورغلے وو، مور ئې د نرۍ زنځ مريضه وه او د ټوخې د دارو په نشه به تر سحره خوبولې وه. د کشمالې کټ خالي پروت وو، هغه د دېوال په خوا غلې ولاړه وه، په يو لاس کښې ئې د پلاستيک چپلې وې او په بل لاس کښې ئې پړونے وو، کوټه کښې توره تيارۀ وه، باتۍ هغې بللولے نۀ شوه، ور په دوه قدمه کښې وو مو ترمينځه ئې د مور او پلار کټونه وو، په دې کټونو اوړېدل وو او بيا به هغه د دې خاورين کوره بهر وه، چرته چې د هغې د خوبونو شهزاده مراد خان د هغې په انتظار وو، هغۀ ورته وئيلي وو چې شپه کله

پخه شی نو له کوره به راووزي، د
ګاډی سټېشن د هغې د کلی سره نزدې
وو او د کراچۍ ګاډے به د شپې دوه
بجې سټېشن ته رارسېدو، کراچۍ چې د
هغې د خوبونو ښار وو، کله نه چې
کشمالې او مراد خان دا فېصله کړې
وه چې د کلی نه به تښتی او نېغ به
کراچۍ ته ځی، د هغې ورځې نه د هغې
په سترګو کښې د رڼاګانو د ښار
خوبونه ځلېدل، ناڅاپه ئې مور په
خوب کښې وټوخېده، د هغې زړۀ په
درزېدو شو، پړونے ئې په خپله سینه
پورې داسې کلک ونیوو لکه چې د زړۀ
درزا ئې مور وانۀ وری، څۀ د ساړۀ
نه او څۀ د ویرې نه، هغه په ټول
وجود رپېده، مور ئې بیا په خنېدو
شوه، هغې سترګې پټې کړې او بې
اختیاره ئې ترور د خیال په ورشو
قدم کېښودو، هغه څو ورځې وړاندې د
هغې د وادۀ نېټې پسې راغلې وه،
ترور په هغې ډېره مئینه وه او د
ماشوموالی نه ئې هغه ډېر په مینه
خپل مشر زوې قدرت الله ته په نوم کړې
وه، هغه د رنګه تور او مسکین
غوندې هلک وو، د نائی توب کار ئې
کولو، ځکه چې په پلار نیکۀ د اصله
نایان وو، د کشمالې پلار هم خواری
مزدوری کوله خو د کشمالې خیالونو

لړ اوچت وو، هغې د ماشوموالی نه په کور کښې د خپل نوم سره د قدرت الله نوم اورېدلے وو، خو زړۀ ته ئې نه پرېوتو، خپلې ماتې ائینې هغې ته څو څو ځله په چپه خُلۀ وئیلی وو چې هغه د قدرت الله دپاره نۀ ده او بیا چې کله د مراد خان د سترګو په ائینه کښې هغې د خپل ښائست عکسونه ولیدل نو یقین ئې پوخ شو چې هغه د قدرت الله نه، د مراد خان دپاره ده.

مراد خان د هغې په ګاونډ کښې اوسېدو، په کراچۍ کښې ئې د کباړ کاروبار کولو او ښې پېسې ئې ګټلې، د کراچۍ نه چې به کلی ته راغلو نو لکه د فلمی هیرو به په ټول کلی کښې په ښه جامه ګرځېدو، کشمالې ته به ئې خوارۀ خوارۀ کتل او هغې هم د ځان جوګه ګڼلو، دا ځلې چې د کراچۍ نه راتلو نو کشمالې ته ئې د ځان سره د زېړو هغه کړې راوړې وې چې د سرو اوبۀ ئې ورکړې وې، بېخی د سرو زرو ښکارېدې، د هغۀ د راتلو نه دوه ورځې وړاندې د هغې ترور د هغې او قدرت الله د وادۀ نېټه ایښې وه، کشمالې چې هغۀ ته د نېټې خبره وکړه نو دواړه په دې صلا شو چې اوس بله لار نشته، سېوا د دې چې پټ په پټه کراچۍ ته وتښتی او هلته وادۀ

وکړی، کشماله ویریده خو مراد تسلی
وکړه چې د واده نه وروستو به
دواړه راشو او د مور پلار په پښو
کښې به کښېنو او معافی به وغواړو،
د هغۀ د ډاډګیرنې نه پس دواړو نن
شپه د تېښتې شپه ټاکلې وه، هغې په
پټو سترګو د خپل ماضی فلم کتو، په
کوټه کښې د هغې د مور د خنډېدو
اواز د يو خاص تسلسل سره راتللو،
هغې بیا سترګې پټې کړې، د نن سحر
يو منظر ئې د سترګو په پړده
وځلېدو، مور ئې د کټ د لاندې پروت
د ټيم هغه زوړ صندوق غولی کښې نمر
ته راشکلے وو او په صندوق کښې
پرتې رنګ په رنګ جوړې، سرۀ شنۀ
پیوی او نور د هغې د داج سامان ئې
په کټ کښې راخور کړے وو، کشمالې
باندې به لکه د قدرت ﷲ د خپل داج
دا سامان هم ښۀ نۀ لګېدو، خو د
هغې د مور په سترګو کښې هغه وخت د
مینې، خوشحالی او اطمینان احساس
لکه د ستورو ځلېدو او چې کله د
غرمې نه وروستو د مراد پیغام
راغلو، نو د هغې زړۀ د بې نومه
شان وسوسو ښکار شو، د ماښام
تروږمی چې خوریده نو د هغې زړۀ
ورسره سم په ګوګل کښې خوریدو، د
تورې شپې وحشت ئې په لیمو کښې

ښکاريدو، کله به ئې د پلار هډوکي هډوکي وجود او کله به ئې د مور زيږه زاويله څهره مخې مخې ته کېده او اوس په نيمه شپه کښې هغه د ديوال خواته ولاړه وه، جپلې ئې په لاس کښې او پړونے ئې سينه پورې نيولے وو، کوټه کښې تورتم وو، دا هغه کوټه وه چې هغې پکښې د ژوند شپاړس کاله تېر کړی وو، هغې ته په پټو سترګو د دې کوټې هر ګټ معلوم وو، هغه په دې کوټه کښې کله هم نۀ وه ترهېدلې، ولې نن هغې ته دا کوټه لکه د يو لوي غار په شکل ښکاريده، هغه ويريده چې کۀ قدم واخلي نو په لويه کنده کښې به پرېوځي، هغې زړۀ راټول کړو او ورو ورو غوندي ئې قدم پورته کړو، په وېره وېره ئې دوه درې قدمه واخستل خو ناڅاپه ئې پښه د څۀ څيز سره ولګېده، د "ټنګ" تريخ اواز لکه د بم د چاودنې کوټه کښې خور شو، د هغې د خُلې نه د "سی" يو دړدمن اواز بې اختياره پورته شو، هغه د تکليف نه راټوله شوه، مور پلار ئې هغسې په خوب اودۀ وو، د هغې د کېټې ګوتې نه د دړد څړيکې ختې، هغه ورو ورو ښکته کښېناسته، اول ئې په څيز لاس ووهلو چې د هغې د

کمالہ لطیفه شاهد

پښې سره لګېدلے وو، دا د ټیم هغه زوړ صندوق وو چې د هغې د داج سامان پکښې پروت وو، مور ئې د کټ سره برڅېره ایښے وو، بیا ئې خپله ګوته او کته، د ګوتې نوک ئې د صندوق سره مات شوے وو، د هغې په سترګو کښې اوښکې راغلې، یوه لحظه هغه په زمکه ناسته وه او بیا ورو ورو پاڅېده او په ګوډه ګوډه پښه د کوټې ور ته نزدې شوه، مور پلار ئې هغسې اوده وو، په لړزانده لاس ئې د ور کونډه شکته کړه او ور ئې لرې کړو، د یخې هوا یوه تېزه وږمه کوټې ته ننه وته، هغه د سر نه تر پښو ورپېده، ناګهانه ئې مور په کټ کښې اړخ واړولو، د کټ د "چر" اواز سره د هغې زړۀ د ګوګل نه حلق ته راټوپ کړي، د بهر د یخې هوا وږمه ئې لکه چې د رنځورې مور په وجود بده ولګېده، هغه یو ساعت ساه نیولې په ور کښې ودرېده، خو د مور سترګې ئې بیا ورغلې، هغې رو غونډي خپله یوه پښه د درشل نه بهر کېښوه، بهر د تیرې څادر خور وو.

"مراد به زما انتظار کوی"

هغې د څان سره ګنګوسه وکړه، بیا ئې په اخرۍ څل د مور پلار کټونو ته مخ واړولو، خو په تورتم

کښې ئې هېڅ ونۀ لیدل، د هغې یوه
پښه د درشل نه بهر وه او بله پښه
ئې په کوټه کښې وه، هغې کوشش کولو
چې دویمه پښه پورته کړی خو داسې
ښکاریده لکه چې پښه ئې په ختۀ کښې
خښه شوی وی، په ګوټه کښې ئې بیا د
درد څریکه شوه، د ګوټې سره ورته
بیا د خپل داج هغه صندوق رایاد
شو، په هغه صندوق کښې تش د هغې د
داج سامان نۀ وو، بلکې د هغې د
مور او پلار ارمانونه هم وو، هغې
ته داسې محسوس شوه لکه چې د ګوټې
درد ئې زړۀ ته رسېدلے وی، د هغې
په غوږونو کښې د نالېدلی خلقو
اوازونه راتلل.

"دا د هغې متیزې مور ده، دا د
هغې متیزې پلار دے"

د هغې زړۀ د فېصلې په صلیب
زوړند وو، هغې خپل سر د کوټې په
ور کېښودو او خپله پښه ئې واپس
دننه راښکله، هغې ته داسې محسوس
شوه لکه چې پښه ئې تراوسه په
سکروټه پرته وه، ور ئې بند کړو،
کونډه ئې ولګوله او بندې دروازې
ته ئې ډډه ووهله، کوټه واپس لکه
چې کوټه شوه، مور پلار ئې لا هغسې
اودۀ پراتۀ وو، د هغې د ګوټې درد
هم قلار شو، دا د فېصلې معجزه وه،

لطیف شاه شاهد

د هغې بستره لا هغسې توده وه لکه چې هغه بيخی له کټه پاڅېدلی هم نهٔ وی، هغې په خپله زړه برسټن کښې خپل واورين وجود داسې انغښتو لکه چې د ماده باده قدرت الله غېږې ته ورغلی وی.

کېماله لطيف شاه شاهد